المسلک».

ترجمه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: الله متعال میفرماید: هر عمل فرزند آدم براي اوست غیر از روزه که آن براي من است ومن پاداش آن را مي دهم و روزه سپري است (در مقابل دوزخ یا گناهان) و چون روزه یکي از شما باشد، باید نا سزا نگوید و فریاد نکند و با کسي دگیر نشود و اگر کسي اورا دشنام داد یا با او جنگ کرد، باید بگوید من روزه دارم و سوگند به ذاتي که جان محمد درید اوست همانا بوي دهان روزه دار در نزد الله تعالی از بوي مشك نیکوتر است و براي روزه دار دو شادي است که بدان شاد مي شود: یکي که چون افطار کند شاد مي شود و دیگری که چون پروردگارش را ملاقات کند به روزه اش شاد میگردد.

واین لفظ بخاري است و در روایتي از آو امده که روزه دار طعام واشامیدني و شهوت خود را از جهت من ترك میکند، روزه از براي من است ومن بدان پاداش میدهم و حسنه به ده برابرش.

ودر روایتي از مسلم آمده که هر عمل فرزند آدم چند برابر مي شود نیکي به ده برابرش تا هفت صد برابرش، الله تعالي فرمود: مگر روزه که همانا از براي من است ومن بدان پاداش میدهم، شهوت و طعام خود را بدستور من مي گذارد و براي روزه دار دو شادي است:

یك شادي در وقت افطارش و یك شادي در وقت ملاقات با پروردگارش و بوي دهن روزه دار در نزد الله متعال از بوي مشك بهتر است.

در حدیثي که عبدالله ابن عمر رضي الله عنه روایت نموده آمده که ارشاد رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم است که در روزه رستاخیز روزه و قرآنکریم هر دو شفاعت روزه دار و تلاوت کننده را میکند، روزه استدعا میکند پروردگارا! من این بنده ات را روزها از خوردني و اشامیدني و دیگر چیزهاي ممنوعه باز داشته بودم، الهي برایش عفو فرما، همچنین قرآنکریم هم برایش از نزد الله تعالي مغفرت میخواهد، الله تعالي شفاعت روزه و قرآنکریم را قبول میکند. در حدیثي بخاري که و مسلم نقل نموده میفرماید:

«وعن ابي هریرة رضي الله عنه عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: من صام رمضان ایماناً و احتصاباً غفر له ما تقدم من ذنبه».

www.libtool.com.cn

هکذا: «و عنه رضي الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: و اذا جاء رمضان فتحت ابواب الجنة و غلقت ابواب النار و صفدت الشیاطین» (متفق علیه)

ترجمه: از ابو هریرة رضي الله عنه روایت است که پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمود کسیکه رمضان را از روي ایمان و اخلاص روزه گیرد گناه گذشته اش امرزیده مي شود همچنین از ابو هریرة رضي الله عنه روایت است که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: چون رمضان آید، درهاي بهشت باز شده و درهاي دوزخ بسته گشته و شیاطین به زنجیر کشیده مي شوند.

جاي دیگر فرمود: «لویعلم العباد ما في رمضان لتمنت امتي ان تکون السنة کلها رمضان» (بیهقي ترغیب)

یعني اگر بندگان الله متعالی از فضیلت حقیقي روزه گرفتن رمضان اکاهي یابد امت من خواهش تمام سال روزه گرفتن را خواهند نمود.

## حکم روزه گرفتن در روز شك:

روزهاي شکي در ماه مبارك رمضان معمولاً دو روزه بوده که در اول و آخر ماه رمضان قرار دارد. براي

اينكه مسلمانان درين روزها در شك نيفتند برهمه مسلمانان لازم است كه اول و آخر ماه شعبان را تعقيب نمايند، زيرا كه پيامبر اكرم صلى الله عليه وسلم در روز شك از روزه گرفتن منع فرموده است: «وعن ابي اليقظان عمار بن ياسر رضي الله عنهما قال: من صام رمضان اليوم الذي يشك فيه فقد عصي ابا القاسم صلى الله عليه وسلم» (رواه ابو داود، ترمذي، حديث حسن،صحيح)

ترجمه: از ابواليقضان عمار بن ياسر رضي الله عنهما روايت شده كه گفت: آن كه در روزيكه در آن شك است روزه گيرد همانا در برابر ابوالقاسم صلى الله عليه وسلم نافرماني نموده است.

جامع ترمذي بروايت ابو هريرة رضي الله عنه حديثي رانقل نمود كه:«احصوا هلال شعبان لرمضان» يعني رويت هلال شعبان را بخاطر رمضان تعقيب نمائيد.

همچنين فرموده اند: «عن ابن عباس رضي الله عنهما قال، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم «لاتصوموا قبل ر مضان، صوموا لرويته و افطروا لرويته، فان حالت دونه غياية فاكملوا ثلاثين يوماً» (رواه الترمذي وقال حديث حسن صحيح)

ترجمه: از ابن عباس رضي الله عنهما روايت است كه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمود: پيش از رمضان روزه نگيريد، بلكه با ديدن ماه روزه گرفته و با ديدن ماه افطار كنيد و اگر چنانچه ابري مانع ديدن آن شد سي روزه را تمام نمائيد.

همچنين ميفرمايد: «**وعن ابي هريرة رضي الله عنه قال، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اذا ابقي نصف من شعبان فلا تصوموا» (رواه الترمذي و قال حديث حسن صحيح)** ترجمه: از ابو هريره رضي الله عنه روايت است كه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمود: چون نيمي از شعبان بماند پس روزه نگيريد.

از روايات و آحاديث مذكور معلوم مي شود كه روزه گرفتن در روز مشكوك جايز نيست و در روايت ديگري آمده: «وعن ابي هريرة رضي الله عنه ، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «**لايتقدمن احدكم رمضان بصوم يوم او يومين، الا ان يكون رجل كان يصوم صومه، فليصم ذلك اليوم**» (متفق عليه)

www.jbtool.com.cn

ترجمه: از ابوهريره رضي الله عنه روايت است كه: پيامبر صلى الله عليه وسلم فرمود: هيچكدام شما يك روزه يا دو روزه پيش از رمضان روزه نگيرد مگر اينكه كسي باشد كه همان روز را روزه مي گرفته پس آن روز روزه بگيرد.

مثلاً شخصي عادت دارد تمام سال روزهاي دوشنبه و پنجشنبه و يا ايام بيض را ثوابي ونفلي روزه ميگرد و ايام متذكره مصادف با روز شكي باشد درينصورت روزه اش جايز و در غير آن مكروه تحريمي است.

روزه گرفتن در روز شك به نيت روزهء ماه رمضان و يا به نيت اينكه اگر رمضان بود روزه اش فرضي خواهد بود و اگر رمضان نه بود روزهء اش نفلي خواهد بود، جايز نيست، چون رسول الله صلى الله عليه وسلم در حديث فوق الذكر پيش از ماه رمضان يك روز و يا دو روز روزه گرفتن رامنع قرار داده است فلهذا روزه گرفتنش باطل و حرام است

(والسلام على من اتبع الهدى)

www.libtool.com.cn

# تمدن او د تمدن ډولونه

ليکوال: زاهدي احمدزي

تمدن عربي کلمه ده، د لغت په لحاظ ابادي‌او عمران ته ويل کيږي ځکه چي له مدن څخه اخستل شوي دي. يعني عمراني ژوند غوره کول. او په اصطلاح کې د هغه ژوند دود څخه عبارت دي چي په هغه کي عقيده، اقتصاد، کلچر، فرهنګ، ثقافت او تهذيب ټول وي. چي د قوانينو په لحاظ تمدن پر دوه ډولونو باندي ويشلي شوي دي. جاهلي تمدن او اسلامي تمدن: او بيا دا هر يو دري څانګي لري چي دادي هر يو د خپلو خپلو تعريفونو سره ذکر کولي شي. لومړي جاهلي تمدن او بيا وروسي اسلامي تمدن.

**جاهلي تمدن:** جاهلي تمدن هغه ته ويلي شي چي قوانين ئي پخپله د بشري اندودونو او فکري تيوري‌په بنسټونو ولاړ وي. مادي او معنوي دواړه اړخونه ئي له خپل مزاج او د خپلي ټولني له عيني او ذهني غوښتنو سره سم جوړوي. په اغلب ډول ددغه تمدن زيربناء ماده وي او معني ته يا خو بيخي ارزښت نه ورکوي او يا ډير لږ او په دوهم قدم کي معنويات مطرح کوي. جاهلي تمدن دري ډولونه لري: حسي تمدن، عقلي تمدن او اشراقي تمدن. چي دادي په ترتيب سره دري واړه بيانولي شي.

**حسي تمدن:** د تمدن ددغه ډول منونکي او پيروان يواځي پر هغه څه باور، ازعان او ايمان لري چي په بشري حواسو سره ادراک کولي شي. دغه جاهلي تمدن د تاريخ له نظره له نورو ګردو جاهلي تمدنونو څخه پخواني دي او له ګردو څخه زماني سبقت لري. دغه راز دغه تمدن په ګردو کي زيات مقبول دي ځکه چي په هره زمانه کي او د بشري نړيه‌د هر قوم او ملت لپاره د تطبيق جوګه وي او د نورو په پرتله په اسانتيا سره او زيات د انساني خواهشاتو او نفساني غوښتنو تسکين کولي شي.

د حسي تمدن لپاره د عقلي تعمّق او هيڅ ډول قرباني‌او ايثار ضرورت نهٔ وي، له همدي امله عام بشري وګړي دغه تمدن زيات خوښوي او د بشري تهذيب په تاريخ کي د حسي تمدن په انډول بل هيڅ يو تمدن بيا بيا تبارز نه دي کړي او نه ئي په بشري ټولنو کي دومره زيات حاکميت تر لاسه کړي دي.

**پنځيز خصوصيتونه:** د حسي تمدن فطري او طبيعي خصوصيتونه چي د تمدن له نورو انواعو څخه ئي بيلوي په لنډه توګه په لاندي ډول بيانولي شي:

الف: د حسي تمدن لومړي خصوصيت دادي چي دغه تمدن خپلو پيروانو ته دا ښوونه کوي، هر هغه شي چي د حواسو په ادراک کي نهٔ رادرومي او د حواسو له چمبي څخه بهر وي هغه قبول نهٔ کړي.او په مطلق ډول انکار ورڅخه وکړي، په همدي اساس دغه تمدن د پوړتني اصل پر اساس د هر هغه شي وجود چي د

انسان ظاهري حواس يې تصديق ونهٔ کړي نو لازمي نتيجه ئي داده چې د هغه شي پر وجود باندي ايمان نلري. يعني په سترګو ئي ونهٔ ويني يا ئي لمس نه کړي يا ئي وانهٔ وري او داسي نور.

او کله چي د هغه پر وجود باندي باور او ايمان ونلري نو له داسي شي او موجود څخه ويره کول او يا له هغه څخه طمعه کول، له هغه سره مينه کول، هغه ته احترام کول، له هغه څخه د صادر شويو احکامو او نواهيو پابندي کول، دايو هم ددغه تمدن ددغه اصل له مخي باطل، واهي او بي اساسه دي. نو هر هغه عالم او موجود، برابره خبره ده چي هغه له دنيوي ژوند څخه پرته بل ژوند وي يا له انسان او ليدونکو عالمونو څخه پرته بل عالم وي،چي له حسي استدلال څخه مخالف وي هغه باطل دي.

د حسي تمدن ددغه اصل بله نتيجه داوي چي همدغه ژوند لومړي او وروستي ژوند ګڼي چي له همدي امله ددغه تمدن پيروان پخپل دنيوي ژوند کي هيڅ ډول قيود نهٔ قبلوي او دا عقيده لري کله چي دغه ژوند اخري ژوندون دي او کله چي په مرګ سره پناه شي بيا نه ژوندي کيږي نو پکار ده چي پرته له کوم قيد او شرط څخه له دغه ژوند څخه ګټه واخلي. حرام او حلال، خپل او پردي ددغه تمدن د پيروانو په نزد هيڅ مفهوم نهٔ لري او کله چي دغه تمدن د پرمختګ او ترقئ پړاؤ ته رسيږي نو بيا اخلاق دده په وړاندي هيڅ ارزښت نلري او خپله نيکمرغي په بي اخلاقيء کي ګڼي. دغه تمدن د خپل دغه اصل پر اساس په لذيت او افاديت مبتني وي او بس.

ب: دويم اصل ئي دادي، له دی امله چي ددغه تمدن ګرد اعتماد او دارومدار پر حواسو باندي وي نو د خپلو پيروانو لپاره د ژوند داسي نظام تجويزوي چي سوچه حيواني نظام وي، د خپلو احکامو او ضوابطو د ټاکلو لپاره مجبور دي چي حيوان او حيوانيت ته رجوع وکړي.

ج: دريم اصل ئي د پورتنيو دوه ؤ اصولو مولود دي او هغه دا چي د پورتنيو اصولو پر اساس د حسي تمدن پيروان پر عقيده، اخلاقو، عفت او نورو معنوي صفاتو باندي مصالحو او منافعوته ترجيح ورکوي ځکه چي زير بنائي ماده او ماديت وي او که په کومه زمانه کي ددغه حسي تمدن کوم تابع قوم د معبود موجوديت ځانته لازم هم ګڼلي وي نو دداسي معبود پر وجود باندي قايل چي د حواسو له درك څخه بهر نه وي چي له همدی کبله هغوي ځانته بتان جوړ کړل او د اصنامو مشرکانه دود ئي ايجاد کړ لکه چي په جزيرة العرب کي په قديم عهد کي د عاد قوم داسي کړي وو. هغوي سربيره پر دي باندي چي د خپل شهرت او عيش پرستيء لپاره دنګ دنګ عمارتونه جوړ کړي وو او د اباحيت ژوند ئي غوره کړي ؤ، له دي هرڅه سره سره ئي د بت پرستيء مشرکانه دود هم کاوه او په دي عقيده وو چي دوي تل په دي دنيا کي دي همدغه ددنيا ژوند ددوي لومړي او اخري ژوندون دي. لکه چي د هغوي نبي حضرت هود عليه السلام هغوي ته د هغوي د عقيدي د غندني په توګه ويلي وو:" اتبنون بکل ريع اية تعبثون* و تتخذون مصانع لعلکم تخلدون* و اذا بطشتم بطشتم جبارين* فاتقوا الله و اطيعون* و ا تقوا الذي امدکم بما تعلمون* امدکم بأنعام و بنين* وجنات وعيون* إني اخاف عليکم عذاب يوم عظيم*" (سورة الشعراء ١٢٨- ١٣٥ اياتونو پوري)

ترجمه: آيا تاسي په هر هسك ځاي باندي عمارت او نشان بي ضرورته او بي فايدی جوړوي صرف د ساعت تيري لپاره عبث او داسي ټينګ او کروړلي محلونه او عمارتونه جوړوي چي ګواکي تاسو تل ترتله په دي دنيا کي پاست او کله چي پر چا باندي لاس لګوئ نو په جبر او تيري سره

www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

لاس ورته غزوئ، له الله تعالي څخه ووېرېږئ او د الله تعالي اطاعت وکړئ. له هغه الله څخه ووېرېږئ چې له تاسي سره ئي د هغه څه مدد کړي دي چې تاسي ته معلوم دي. له تاسي سره ئي مدد کړي دي په څارويو او اولادونو درکولو سره. د باغونو او چينو په درکولو سره. هرومرو زه پر تاسو باندي د لويي ورځي له عذاب څخه ويرېږم.

مګر هغوي په ځواب کي ورته وويل:" قالوا سوآء علينا او عظت أم لم تكن من الواعظين*إن هذا الا خلق الأولين* وما نحن بمعذبين*"(سورة الشعرا ١٣٦- ١٣٨ اياتونه)

ترجمه: هغوي ورته وويل: که ته مونږ ته وعظ وکړې او که ئي ونه کړې مونږ ته دواړه حالتونه برابر دي. نه دي دا مګر د پخوانيو خلکو عادت دي او نه يو مونږ چې عذاب به راکولي شي.

دا ئي ځکه ورته وويل چې هغوئ په مغيباتو ايمان نه لاره او د حسي تمدن پيروان وو.

## د حسي تمدن مادي پرمختګ:

دغه تمدن په خپلو صنعتونو سره په خپل وخت کي دنيا ګلزار ګرځولي وه، د غرونو ځيګر ئي څيري کړي ؤ او د اوبو نهرونه ئي ورڅخه جاري کړي وو، د کاڼو او ډبرو پر سينو باندي ئي د ګلونو باغچي کرلي وي، لوي لوي يادګارونه ئي قايم کړي وو او د رنګ رنګ عمارتونه ئي جوړ کړي وو، د بشري صنعت، ذکاوت او نوښتونو داسي نمونې ئي دنيا ته وړاندي کړي وې چې پر هغو باندي د حکيمانه او عقلي تمدن ګمان کولي شو. خو په حقيقت کي د حسي تمدن دغو تمدني قومونو عقل د خپلو حسي او مادي ګټو لپاره په بشپړه توګه استخدام کړي ؤ.

لنډه داچې د جاهلي حسي تمدن ګرد اړخونه پر محسوساتو بناء وي چې له همدي امله دغه تمدن او بت پرستي سره لازم او ملزوم وي. هر څه د خپلو نفساني غوښتنو لپاره په محسوساتو کي انګيري او د هغوي په لاربنودنه ئي پوره کوي. په دغه تمدن کي بشري فطري غوښتني مسخ کيږي، اخلاق له مينځه ځي، معنويات او عقيده هيڅ ارزښت نه لري چې مثالونه ئي د لوط د قوم، مزدکيت او کمونيزم وړاندي کولي شي دغه راز د شعيب عليه السلام قوم پخواني رومي، يوناني، عراقي او ايراني قديم ملتونو ګردو همدغه حسي تمدن لاره چې اوس ئي هم لرغوني اثار موندلي شي او موجود دي.

## عقلي تمدن:

د جاهلي تمدن دويم ډول عقلي تمدن دي او همدغه تمدن ته علمي تمدن ويلي شي او له علم څخه مراد فلسفه ده. دغه تمدن او ده پيروانو ته په اوسني اصطلاح کي سيکولريزم او "علمانيت" ويل کيږي. ناسيونالېزم او فاشيزم هم ددغه تمدن څانګي دي.

ددغه تمدن اساس او بنسټ عقل دي او د ژوند دود ټول اړخونه ئي پر عقل باندي ولاړ دي. برابره خبره ده که عقيدوي دي که اقتصادي، فردي دي که اجتماعي او داسي نور ... او کوم امور چې د عقل پر معيار سم نه وي او له عقل څخه خلاف وي، ددغه تمدن پيروانو ته د قبول وړ نه وي. که څه هم هغه د کايناتو د خالق د وجود، پس له مرګه بيا ژوندی کيدل، د وحي نزول، حلال او حرام او داسي نور وي. ددغه تمدن پيروان له شريعتونو څخه صرف هغه قوانين قبلوي چې له عقل سره سمون وخوري. او عقل حکم پري وکړي.

لنډه داچې ددغه تمدن معبود او اله عقل دي چې له همدی امله د فرويد او ماکياولي، نهرو او ګاندي په څير شخصيتونه د اباحيت، مجسمه سازۍ، سود خورۍ، قوم پرستي او بت پرستي په رنګونو اخته شوي دي. خو دغو لارو چارو ته يواځي مونږ رنګونه وايو ددوي په نزد خورا مقدس دي ځکه چې ددوئ عقلونه د هغو د غوره کولو حکم ورته کوي.

## اشراقي تمدن:

اشراقي تمدن د

www.libtoof.com.cn

جاهلي تمدنونو دريم ډول دي او د تمدن دغه ډول په هر اړخيزه توګه د حسي او عقلي تمدنونو په خلاف دي. په اشراقي تمدن کي ماديات او د دنيوي ژوند وسايل، اجتماعي اړيکي او داسي نور نه يواځي دا چي ارزښت نهٔ لري، بلکه په دغه تمدن کي پر دغو اشياؤ اتکاء کول له خپلو اصولو څخه انحراف او بغاوت دي.

په اشراقي تمدن کي روح او روحانيت ته د الوهيت درجه ورکړاي شوي ده. ددغه تمدن پيروان دا عقيده لري چي د انسان جسم يو قفس دي چي په ده کي انساني روح بندي کړاي شوي دي، چي له هر ډول پرمختګ او ودي ميندلو څخه ئي غورځولي دي او تر هغي پوري روح خپل اصلي مرکز او د حقيقت پړاؤ ته نهٔ رسيږي چئ يا خو بيخي دغه جسمي قفس مات نه کړاي شي او يا ئي ستني دومره کمزوري نه کړاي شي چي د روح د مخ نيوي ځواک پکي ختم شي او روح چي هر کله وغواړي په آزادانه توګه د خپلي جونګړي او هستوګنځي پلو ته پرواز وکړاي شي.

ددغه تمدن پيروانو په مطلق ډول د ماديت په خلاف جنګ پيل کړ او هغه داسي چي په خپلو ځانونو باندي ئي هر ډول هوساينه، سوکالي او آرامتيا تحريم کړل. د رياضت او ربړونو ګاللو ټول ډولونه ئي په کار واچول. د مثال په ډول ټول ټول کال روژه نيول، ټول کال په يوه پښه ودريدل، د تعميرونو پر ځاي په سمڅو کي اوسيدل، ددوړي پر ځاي واښهٔ خوړل، د تارين لباس پرځاي د څارويو بد بويه ببر پوستکي اغوستل، ټول کال غسل نه کول، د ستر لپاره دخپل بدن ويښتان دومره اوږدول چه ټول جسم پکي پټيدهٔ، دځناورو په څير څلور بوله تلل راتلل کول او داسي نور هغه تکاليف جسم ته ورکول چه پری کمزوري کيږي.

اشراقي تمدن دري دورونه تير کړيدي. په لومړي دور کي ددغه تمدن په منځ ته راتګ سره ددغه تمدن په قبلونکو امتونو کي د حسي او عقلي تمدنونو آثار په بشپړه توګه ختم شول. په دويم دور کي هم دمادياتو مطلق تحريم په خپل حال باقي پاتي ؤ، ځکه چه ددغه تمدن مخکښانو خپلو قومونو ته ويل :

داشراق او رياضت اصلي موخه او نهائي هدف مرګ تر لاسه کول دي او ددي موخي د تر لاسه کولو لپاره هر ډول لذت او سوکالي تحريمول ضروري دي، ځکه چي د انسان لپاره له ګردو څخه لوي مصيبت لذت او مسرت دي. د لذت له عمله له جسم سره د روح اتصال ادامه پيداکوي او د يزدانيت عنصر ئي کمزوري کيږي. انسان د لذت په توښه د روح ګرد روحاني او رهباني هدايات او لار ښودني پريږدي، په جسماني لاربښودنو او هداياتو عمل کوي چه پدي توګه جسم او روح دواړه په مادي زولنو کي بندي کيږي او خلاصون ور څخه تر لاسه کولي نهٔ شي.

په دريم دور کي مسيحيت او هندو- ايزم هم داشراقي تمدن تر اغيزي لاندي راغلل او دغو دواړو امتونو هم دومره زيات افراط وکړ چه له ښځو سره وادهٔ، محبت او مينه کول ئي هم تحريم کړل، ښځه د نارينه لپاره د ګناهونو او مصيبتونو ستر عامل دي، ان تر دي چي ښځه ئي د انسانيت له چمبي څخه بهر وګڼله او دا اعلان ئي وکړ چه ښځه د انسان نهٔ بلکي د شيطان له نسل څخه ده.

مګر په دوي کي دقسطنطين او اشوک په څير شخصيتو نه پيدا شول چه هم پاچاهان وو او هم داشراقي تمدن پيروان وو. هغوي په آواخرو ددريمي دوري کي زيار ويوست چه اشراقي تمدن له حسي او عقلي تمدنونو سره تر يو حده پوري او په ځيني اړخونو کي امتزاج راولي څو د ځمکي د عمران پروسه بيخي محوه نه شي.

(نور بيا)

# ياسر عرفات ته د امن دخبرو په ځواب کې مرګ، ويني او فريادونه د تحفې په ډول ورکړې شول.

www.libtool.com.cn

## په ابراهيمي جومات د يو اسرائيلي پوځي يرغل

د روژې د پيشمني نه وروسته د سحر د لمانځه لپاره جومات ته دالله تعالى دعبادت لپاره راغلو مسلمانانو باندې د يو تن مست جنوني او قصي القلب يهودي له خوا دګوليو باران شروع شو او (۸۲) مسلمانان ئې پداسې حال کې شهيدان کړل چې د الله تعالى حضورته سر په سجود وو.

إنالله وإنا اليه راجعون.

هيچاته دا موقع او وخت ميسر نه شو چې ځان يو محفوظ ځاى ته ورسوي، ځينو خلکو کوشش کاوه چې ځان د ګوليو له مخې نه بچ کړي، خو يو په بل راغورځيدل او ګولۍ پرې لړيدلې، بس يو خوا د ټوپکو ډزې وې او بل خوا د مظلومو او تش لاسو مسلمانانو د الله اکبر نارې.

تقريباً لس پنځلس دقيقې دغه کاروانئ روانه وه او يهودي قاتل ځو ځل د خپل توپك شاجور بدل کړ. او ډزې ئې کولې، تر هغه چې (۸۲) کسان ئې شهيدان او له (۳۰۰) نه زيات کسان ئې ټپيان کړل او په دغه ډول ئې ياسر عرفات او دهغه ملګرو ته د امن دخبرو اترو په ځواب کې مرګ، ويني او فريادونه د تحفې په ډول وړاندې کړل.

دغه واقعه د فلسطين په نيول شوې سيمه د ويسټ بنك د يو ښار الخليل (هيبران) په ابراهيمي جامع جومات کې پيښه شوه دا جومات د فلسطين له مسجد اقصیٰ نه وروسته دويم لوئي مقدس جومات شميرل کيږي. دغه جومات چې د حضرت ابراهيم عليه السلام د روضې په خوا کې آباد او تعمير شوى دى نو ځکه دمسلمانانو، عيسايانو او يهوديانو په وړاندې ډير مقدس ځاى ګڼل کيږي.

د جمعې د سحر په وخت چې دا واقعه پيښه شوه نو پدغه وخت کې تقريباً (۸۰۰) مسلمانانو د سحر لمونځ ادا کولو او د جومات شاوخوا اسرائيلي پوځيان هم موجود ووچې جومات ته د ورتلونکو مسلمانانو څارنه به ئې کوله اومسلمانانو ته به ئې جومات ته د ورتللو اجازت ورکولو. د حيرانتيا وړ خبره خو داده چې د جومات شاوخوا د مسلح اسرائيلي پوځيانو د پوره او امنيتي تدابيرو سره سره څنګه يو تن وکولى شول چې جومات ته ورداخل شي، لس پنځلس دقيقې په لمونځ ګذارو باندې ډزې وکړي او په بې غمه زړهٔ او پوره حوصله ئي څو ځله خپل د توپك (مشين ګڼ) شاجورونه تش کړي او بدل کړي، ليکن يو اسرائيلي پوځي هم نه راوړاندې کيږي چې د حمله کوونکي يا حمله کوونکو مخه ونيسي او آن تردي چې د اتؤسوو کسانو له جملي څخه تقريباً څلورسوه کسان وويشتل شول. د يو تن عيني شاهد وينا ده چي داسي معلوميدله چي حمله کوونکي غوښتل چي په جومات

کي موجود ټول کسان یو یو ختم کړي.

دغه واقعه د کال ۱۹٦۷ نه راپدیخوا د فلسطینیانو خلاف د یهودو د بربریت او وحشت د ټولو نه لویه فاجعه شمیرل کیږي. ددغه واقعي په باب اګر چي د اسرائیلو حکومت او د هغه اعلي سرپرست (امریکا) خپل خفګان او تأسف ښکاره کړي دي او فلسطینیانو ته ئي د صبر او زغم تلقین کړي دي خو له بلي خوا عربي نړۍ او نور اسلامي هیوادونه په دې شك کي غورځیدلي دي چي د الخلیل د جومات واقعه یوه تصادفي واقعه نهٔ بلکه د یوي لوي جوړي شوي منصوبي یوه حصه وه چي عملي شوه، اول خو دا چي د اسرائیلو نه د خیر طمع عبث ده، دوهم دا چي د جومات شاوخوا د اسرائیلي پوځیانو د سخت چیکینګ باوجود ټنګه یو تن کولي شي چي وسله په لاس جومات ته ورننوځي او په لمونځ ګذارو باندي پنځلس دقیقي عملیات جاري وساتي، دا ددي خبري ثبوت دي چي اسرائیلي پوځیان هم په دي عملیاتو کي پوره پوره ملوث دي، او د اسرائیلي حکومت د ملوث کیدو دریم ثبوت د واقعي د عیني شاهدانو وینا ده چي د اسرائیلو حکومت دغه واقعه د یو تن حواس بایللي او لیوني شخص عمل بللي دي او غواړي چي ددي واقعي اهمیت کم کړي، خو له بلي خوا په جومات کي موجودو کسانو د شهادتونو نه معلومیږي چي دغه عمل د یو فرد یا یو تن عمل نه وُ.

د الخلیل د جومات امام ابراهیم عابدین وائي چي د سحر د پنځو بجو نه جومات ته د لمونځ ګذارو راتګ شروع شو، د جومات شاوخوا ټول اسرائیلي پوځیان موجود وؤ او د فلسطینیانو پیژندګلوي به ئي کوله او تر پیژندګلوۍ وروسته به ئي جومات ته د داخلیدو اجازه ورکوله.

د لمونځ په اولني رکعت کي ډزي شروع شوي، هغه وویل: ډزي د مختلفو خواؤ نه کیدلي. د جومات امام دغه واقعه د اسرائیلو له خوا د جوړي شوي منصوبي یوه برخه وګڼله، ځکه چي د جومات شاوخوا د نورو یهودي کورنیو ځاي په ځاي کیدل بي مقصده نهٔ وو.هغه د اسرائیلو په پوځیانو الزام ولګولو چي هغوی د واقعي نه ډیر وروسته مداخله وکړه او د ټپي شوو کسانو په وړلو او د طبي امداد په رسولو کي به ئي سستي کوله او د ډیري ویني د ضایع کیدو له وجي هم ډیرو کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ، اکثره کسان په سر او سینه لګیدلي وو.یو تن بل عیني شاهد عزیزالهاشمي چي عمر ئي تقریباً څلویښت کاله دي وائي، هغه وخت چي لمونځ ګذار رکوع ته ښکته کیدل څلورو پنځو کسانو په هغوی باندي فائرنګ شروع کړ خو خبر نهٔ یم چي دغه کسان په څه ډول په تیښته بریالي شول.

یو تن بل عیني شاهد عیسي الرجابي چي عمر ئي تقریباً دوه څلویښت کاله دي وائي چي ما څیني کسان ولیدل چي یو حمله کوونکي شخص ته ئي کارتوس رارسول. یو تن بل محمد سلیمان وویل چي حمله کوونکو دا کوشش کاوه چي څومره زیات وکولي شي چي زیات کسان باید مړهٔ کړي، محمد سلیمان وائي چي ما اسرائیلي عسکرو ته آواز وکړ چي راشئ زموږ امداد وکړئ او دغه کسان ونیسئ خو دغه عسکر وتښتیدل او تر هغه وخته ئي مداخلت ونکړ تر څو چي ټول کار پوره نهٔ شو.

څه وخت چي د ابراهیمي جومات واقعه نورو سیمو ته ورسیده، فلسطیني ځوانان په جوش کي

www.ltbtool.com.cn

راغلل او په لکونو فلسطنيان د مسجد اقصیٰ څنګ ته د احتجاج دپاره راټول شول، په هر ځاي کي په زرګونو فلسطنيان راجمع شول د اسرائيلي پوځيانو پر خلاف ئي ډبري ووروللي او اسرائيلي پوځيانو ئي په مقابل کي اوښکي بيونکي ګيس او د ربړ ګولۍ واري کړي چه په نتيجه کي ئي په مختلفو ځايونو کي دولس نور فلسطيني ځوانان شهيدان او ډير نور ټپيان شول.

له دغي واقعي نه وروسته د اسرائيلو حکومت د «الخليل» په ښار کي په ګرځيدو را ګرځيدو بنديز ولګولو او هيڅ څوک به ئي نهٔ پريښودل چه جومات ته ور داخل شي، د کرفيو په وجه د شهيدانو او ټپي شوو کسانو ورثا له سختو مشکلاتو سره مخ شول، د ښار د روغتونونو مريضانو خپل بسترونه د دغي پيښي ټپيانو ته خالي کړل ليکن د هغوي شمير دومره زيات ؤ چه د دي باوجود ټپيان د روغتون په برنډو او فرشونو باندي پراتهٔ وو. له روغتون نه بهر په زرګونو کسان راجمع شوي وو او هر چا غوښتل چه مړي او زخميان وګوري څو خپل خپلوان پکي معلوم کړي.

د اطلاعاتو مطابق په ټول فلسطين کي مظاهرو او هنګامو شدت مونډلي ؤ او اسرائيلي پوځيانو له دي پيښي نه دوه ورځي وروسته دوه تنه نور فلسطينيان هغه وخت شهيدان کړل چه دابراهيمي جومات په خوا کي ئي احتجاج کولو.

د يهوديانو له اسلام سره دښمني څه نوې خبره نده، د نبي کريم صلي الله عليه وسلم له وخت نه نيولي تر ننه پوري چه کله هم يهوديانو ته موقع په لاس ورغلي هغوي د مسلمانانو په خلاف له هيڅ قسم سازش نه ډډه نده کړي او هميشه ئي لاسونه د مسلمانانو په وينو سره کړي دي. د قرآنکريم په سورة المائده کي د يهودو په باب په ښکاره الفاظو کي ارشاد فرمائيلي دي: اي د ايمان خاوندانو! مه نيسئ يهود او نصاریٰ خپل دوستان، ځيني هغوي دوستان د يو بل دي او چا چه د دوي سره دوستي وکړه هغوي د دوي (يهودو او نصاريٰ) له جملي څخه دي.

خو نن هم په اسلامي نړۍ کي داسي مسلمانان شته چه د هغوي موقف دا دي چه بايد د اسرائيلو وجود او حقيقت په رسميت وپيژني، خو د دغو خوش فهمو مسلمانانو يقين هله خاص شو چه کله د فرورۍ د مياشتي په ۲۵نيټه په ابراهيمي جومات کي د اسرائيلو د حکومت په سازش د څلورسوو مسلمانانو ويني تويي شوي.

د ابراهيمي جومات د دي پيښي د اصلي هيرو په هکله ويل کيږي چه د ده نوم "برج ګولډ ستهائن" دي، لس کاله وړاندي ئي له امريکي نه نقل مکاني کړي او د فلسطين په نيول شوي سيمه کي د يهودو په يو کلي کي ډاکټر پاتي شوي او له دي نه علاوه هغه د اسرائيلو په پوځ کي د کپتان وظيفه هم لري. په کال ۱۹۸۰ ميلادي کي چه اسرائيلو په لبنان حمله وکړه هغه په يو روغتون کي وظيفه درلوده او د مسلمانانو د طبي امداد نه به ئي هميشه انکار کولو. "ګولډ ستهائن" د تحصيل په دوران کي د اسرائيلو د دهشت ګرد تنظيم يو اهم رکن ؤ او د فلسطين د مسلمانانو د ختمولو لپاره ئي خصوصي تربيت او زده کړه ورکوله، هغه د اسرائيلو «کيچ» تنظيم کي هم شموليت درلود، د دغه تنظيم کارکونکي مايکل ګزوفوسکي واي چه ګولډ د يهوديت سره ډيره مينه لري او د يهودو دښمنانو ته ډير په نفرت ګوري.

www.libtool.com.cn

لوی څارنوال ضمن مصاحبه باخبرنگار مجله دعوت:

www.libtool.com.cn

## جهاد خاتمه یافته جنگ و خونریزی نا مشروع و خلاف شریعت اسلامی است

# جماعت الدعوت در حق مردم افغانستان فعالیت های مثمر و مفید انجام داده است.

به سلسله مصاحبه ها با مسولین تنظیمی ودولتی پیرامون وضع سیاسی و اجتماعی کشورخبرنگار مجله دعوت در کابل با محترم څارنپوه مولوی محمد قاسم لوی څارونوال دولت اسلامی افغانستان مصاحبه انجام داده است که در سطور ذیل تقدیم خواننده گان محترم میگردد.

سوال:- بفرمائید و نظر مشخص تان راپیرامون صورت حال سیاسی و نظامی ابراز نمائید؟

جواب:- گرچه در وطن عزیز مان دولت اسلامی تحت رهبری محترم پروفیسور برهان الدین ربانی استقرار یافته و حکومت اسلامی نیز چندی قبل تاسیس ولی همچو تشکیلات به منظور پایداری وثبات سیاسی کافی نیست بلکه ثبات سیاسی به امنیت سرتاسری و بهبود وضع اقتصادی کشور ارتباط میگیرد بناء تا زمانیکه امنیت سرتاسری در کشور تامین نگردد جنگهای تنظیمی و مداخلات خارجی ها در امور داخلی کشور ما قطع نشود، شهرره ها بروی ترافیك باز وبدون خوف و خطر رفت وآمد و انتقالات صورت نگیرد، تولیدات و صادرات کشور رشد و توسعه نیابد و عاید ملی افزایش نکند وبلآخره حکومت مردمی مورد قبول عامه ایجاد و تاسیس نگردد نمیتواند معضلات سیاسی کنونی داخلی کشور عزیز را مرفوع نمود و ثبات سیاسی دایمی رابرقرار ساخت.

سوال:- طوریکه دیده میشود در تگاب، سروبی و کابل جنگ ها بین دو تنظیم جریان دارد شما این جنگ ها را از نظر اسلام و معاشره اجتماعی چگونه بررسی مینمایئد؟

جواب:- با پیروزی جهاد مردم افغانستان و استقرار دولت اسلامی در کشور عزیز مان اصلا جنگ وخونریزی بهر شکلی که بین تنظیمها صورت گیرد نا مشروع و خلاف

بسم الله الرحمن الرحيم

قل هذه سبيلي ادعو إلى
الله على بصيرة أنا ومن
اتبعني وسبحان الله وما أنا
من المشركين
سورة يوسف (١٠٨)

# دعوت

د توحيد او جهاد مجله

www.libtool.com.cn

دامتياز خاوند: دافغانستان جماعة الدعوة الى القرآن والسنة
مؤسس: شهيدشيخ جميل الرحمن (رحمه الله)
سرپرست: الشيخ سميع الله
خيرونکی اداره: ددعوت او ارشاد رياست

شپږم کال پرله پسي گنه (٣٣) ١٤١٤ هـ ق د رمضان المبارك مياشت (١٣٧٢/١١ هـ ش) د کب مياشت

دهيئت تحرير تر نظارت لاندی

ددی گنی مطالب

((وحدت)) Ahmad Shah (Vahdat) A. K. P. O.

(عنوان)

* جنگ د څه دپاره وو او څه وشول (سرمقاله) ......٢
* کابل کنهواله شو ......٥
* رمضان المبارك يا فيوضات ......٨
* تمدن او د تمدن پولونه ......١٢
* ياسر عرفات ته د آمن د خبرو ......١٦
* مصاحبه با لوی څارنوال ......١٩
* د لوی څارنوال له مرستيال سره مرکه ......٢١
* بی اسری افغان (شعر) ......٢٣
* فرياد (شعر) ......٢٤
* د جماعة له نماينده سره مرکه ......٢٥
* ددين مفهوم ......٢٧
* د تنظيم طلبه سلفيه دعوتی او تبليغی پروگرام ......٣١
* بحث معلوماتی دربارهء مسلمانهای کرد ......٣٦
* په صوماليا کی څه تيريږی ......٣٨
* د نبوی ملغلرو امیل ......٤٢
* دليکونو بهير ......٤٥

په پاکستان کی د
گډون بيه:
مياشتنی: ١٠کلداری
کلنی: ١٠٠کلداری

په نورو بهرنيو هيوادونوکی د
گډون بيه:
مياشتنی: ٢ امريکائی ډالر
کلنی: ١٠ امريکائی ډالر

په داخل او په پاکستان کی زموږ
نماينده گان

په داخل کی: لعل محمد «افسوس»
اسلام آباد: عفيف احمد
پيښور: غنی الله «مسلم»
لاهور: حماد شاکر
کراچی: چوهدری ظهور احمد
کوټه: عرفان منگل
مظفر آباد: بشير قريشی

په نورو بهرنيو هيوادونوکی زموږ
نماينده گان

سعودی عرب: فيضان الله
امريکا: عبدالرحمن احمد
بريطانيا: منور علی
جرمنی: وائی - ايم حميم
هالينډ: عماد الدين بکری اسماعيل

کمپوزر: عطاء الله "الفت"

مکاتباتی پته: «دعوت مجله» - پوست بکس نمبر ٦١٤ پشاور پاکستان
بانکی حساب: جماعة الدعوة الى القرآن والسنة - اکاونټ نمبر ٧-١٠٦٣ - نيشنل بينك - صدر روډ - پشاور.

شریعت اسلامی است چه فعلا جهاد خاتمه یافته و هرگونه برخورد مسلحانه بین تنظیم ها ویا برضد قوای مسلح دولت اسلامی افغانستان صورت گیرد مجاز نیست.

جنگهای تگاب، سروبی و کابل اصلا بنظر من جنبهء جاه طلبی، توسعه طلبی و تفوق طلبی دارد که با خواست های مردم افغانستان سازگاز نبوده و مطابقت ندارد که نتیجه همچو جنگها جز خرابی وویرانی کشور، رنج و عذاب مردم ستمدیده و بلاکشیده مان چیز دیگر نیست و مرتکبین آن مورد تنفرو انزجار فرد فرد هموطن ما قرار گرفته ومی گیرد.

سوال:- درین اواخر بعضی رهبران تنظیمها از تشکیل شورای عالی و انتخابات عمومی سخن میزنند شما بحیث رئیس کمیسون انتخابات کارهای کمیسون به کجا انجامیده است؟

جواب:- کمیسیون انتخابات که شامل نمایندگان کلیه تنظیم ها میباشد باساس فیصله جلال آباد شروع بکار نموده ازآغاز کار خود با کلیه رهبران مذاکرات و مفاهمه های در مورد تدویرو نحوه طرز انتخابات بدلیل اینکه قدرت اجرائیوی نداشته وندارد نتوانست تصمیم قاطع و نهائی اتخاذ کند و یا کار کمیسیون رابه انجام رساند همانا کمیسیون انتخابات تقاضا نموده تا شورای عالی رهبران دایر گردد تابه منظور رفع مشکل وکار کمیسیون تجویز لازم اتخاذ کنند و یا به کمیسیون انتخابات صلاحیت دهند تا متکی به آن کمیسیون تصمیم نهائی لازم اتخاذ کند.

امیدوارم با دایر شدن شورای رهبران جهادی موضوع حل گردد.

سوال:- در دوران جهاد نقش تنظیم جماعت الدعوت الی القرآن والسنت به طور اخص کردار شیخ جمیل الرحمن را چگونه یافتید؟

جواب:- جماعت الدعوت درحق مردم افغانستان فعالیت های مثمرو مفید را انجام داده که قابل ستایش و قدر است، شخصیت عالی و جهادی جناب مولوی صاحب شیخ جمیل الرحمن که در طول جهاد افغانستان در راه آزادی وطن و درمورد اتحاد و اتفاق انجام داده قابل قدر و قابل هرگونه تمجید است حتی در راه جهاد از طرف یك دسته مربوط و وابسته به دولت ملحد وقت کابل به شهادت رسیده است روح اش شاد باشد.

در نظر من یگانه را هیکه مردم مسلمان افغانستان از این حالت خارج شوند جمع شدن رهبران جهادی است که ایشان ازوی ایمان بادر نظرداشت جهاد چهارده ساله خود ها یك تصمیم قطعی راگرفت که هر کدام از جانب دیگر قضیه ملامت و یا مسئول باشد آنرا مسئول قرار داده توصیه نمایند در غیرآن در مقابل شان ایستاد شده آنرا در انزوا قرار دهند یعنی خود راطور یکه فعلا است بی تفاوت قرار ندهند و بقسم ناظر و یا سیل بین از دور تماشه نکند.

در قدم دوم تدویر یك شورای بزرگ اسلامی در حصه زعامت آینده مملکت تصمیم اتخاذ نمایند.

www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# د افغانستان داسلامي دولت دلوی څارنوال له مرستیال ښاغلی عبدالرزاق «مصمم» سره مرکه

**داسلام د ښمنان اوشیطانان نهٔ غواړی په افغانستان کی اسلامی حکومت ټینګ شی.**

**داچی په اوسنی سیاسی ضورت حال کی ولی دیوی ورځی نه بلی ورځی ته د ښمنی،اور زیاتیږی او ولی دمجاهدینو تر مینځ جنګونه اواختلافونه شدت پیداکوی. په کابل کی د دعوت دمجلی خبریال د افغانستان د اسلامی دولت دلوی څارنوال دلوړی مرستیال ښاغلی سیدعبدلرزاق «مصمم» سره مرکه کړی چی په لاندی کرښوکی وړاندی کیږی.**

په کابل کی د دعوت مجلی خبریال

پوښتنه:- ستاسو له نظره د افغانستان موجوده سیاسی صورت حال څنګه دی او څنګه کیدی شی د اسلامی نظام دخصوصیاتو سره سم ثبات او استقرار رامنځ ته شی؟

ځواب:- دشکر او ویاړ ځای دی چی دمجاهدینو څوارلس کاله سپیڅلي جهاد مثبته نتیجه ورکړه او د یونیم ملیون شهیدانو په بیه د لومړی ځل دپاره د افغانستان په دارالحکومت کابل کی د اسلامی حکومت د بری او فتحی جنده ورپول شوه خو ددی سره جوخت کورنی او بهرنی دښمنان چی په دی پوه شول چی که دلته اسلامی حکومت ټینګ شی نو ددی نظام د خصوصیاتو سره سم چی نه دشرق پروا لری اونه د غرب، د اسلام ددښمنانو چی لوی طاقتونه هم پکی شامل دی، ددی حکومت د استحکام نه د خطر احساس وکړ او په شکل د اشکالو ئی د شیطانت د لاری د جهادیانو تر مینځ د اختلاف داسی تخم وکاڼهٔ چی علاج ئی ګران شوی او سیاسی صورت حال ئی ویجاړ کړی دی.

اوس اکثره ستر قدرتونه او ټول دښمنان په دی لټه کی دی چی دلته د اسلامی حکومت د جوړولو خنډ شی او تر یوهٔ حده په دی پلان او منسوبه کی کامیاب دی، دا وخت جنګونه روان دی، مهاجرتونه دوام لری، یو پربل باندی د اعتماد روحیه وجود نلری، د وطن د جوړولو او د اسلامی نظام د استحکام په ځای جاه طلبی او د کرسی په سر مبارزه د یوی ورځی نه بلی ته تونديزی.

پوښتنه:- د تګاب، سروبی او د کابل اوسنی جنګونو ته په کومه سترګه ګورئ او ددی جنګونو انګیزه څه شی دی او د جهادی رهبرانو اختلافات به څه وخت ختم شی؟

ځواب:- لکه چی مخکی می هم وویل کله چی دولت د اسلامی کیدو او د نظام د جوړیدو په طرف ګامونه اخستل همدغه دښمنان وو چی جنګونو او اختلافونو ته ئی لمن ووهله او تیری اتلس میاشتی ټولی په جنګ کی تیری شوی، ډیر بی ګناه انسانان پکی خاورو ته لاړل او ډیر خلك پکی زیانمن شولد تګاب، سروبی او د کابل اوسنی جنګونه هم د همدی جنګونو

سلسله او پیلامه وه چې مجاهدین پکې یو دبل د وژلو لپاره په کمینونو کې د توپونو شاته ناست دي جنګ ډیر بدافت او غټ مصیبت دی او انګیزه ئې بیا هم ځان غوښتنه او اقتدار پسندي ده.

د مجاهدینو د رهبرانو تر مینځ هیڅ اختلاف نشته دی بلکه یوازې د حزب اسلامي مشر حکمتیار صاحب دی چې سیاسي حالات ئې جنجالي کړي دي او په دې وسیله ئې د جنګونو او دحکمتیار صاحب په دې کاروائي سره نه یوازې د صدراعظم په حیث دملت په وړاندې د اعتراض سره مخ شوی دی بلکه د تنظیم پخوانی هویت ته ئې هم صدمه ورسوله .

پوښتنه:- اساسي موقت اصول چې دټاکلي کمیسیون له خوائې مسوده تیاره شوی وه او د توشیح لپاره جمهور ریس ته وړاندې شوی وه، په کوم پړاوکې ده اودنه توشیح کولو علت ئې څه دی؟

ځواب:- اساسي موقت اصولو چه دځو ورځو په اوږدوکې ورباندې کمسیون کار وکړ او توشیح ته چمتو کړی شوی، ددې وجهې نه توشیح نکړی شو چه یو لړ نیمګړتیا وې ئې درلودې اوځینې جنجالونه ترې جوړیدل او هغه دا وه چې داهل تشیع او دښځو د مطالبو په سر پکې اختلافاتو ظهور وکړ، اوس دغه مسوده تجدید نظر شوې ده ډیره زربه عامه رایو دپاره په جرایدو او ورځپاڼو کې خپره کړی شي او دعمومي نظر دغوښتلو او انعکاساتو د معلومولو نه وروسته به توشیح اوپه چلند کې به واچول شي.

پوښتنه:- په داسې حال کې چې اساسي موقت اصول لانهٔ دي توشیح شوی داپه دې معنی نهٔ دې چې مونږ په لاقانونیت کې ژوند کوو؟

ځواب:- نه خیر لکه څنګه چې په اکثره اسلامي هیوادونوکې دنظام دچلولو ستر رهنما اوقانون قرآن او احادیث دي، مونږ هم چې اسلامي حکومت مو برې ته رسولی دی دقرآن او حدیث په رڼا کې خپلې چارې سمبالوو، څکه داجتماعي ژوندانه په ډګرکې به داسې مسئله نه وي چې دنظام دسمبالښت دپاره ئې په اسلامي ارشاداتو کې احکام نه وي بیان شوي.

د بله طرفه د پخوانی نظام ټول قوانین غیر اسلامي نهٔ دي، د قانون اکثره هغه مواد او احکام چې د اسلامي دولت د روحې اونبض سره منافات نلري په چلند کې دي او په حقوقي ارګانونو کې ئې رعایت کیږي.

پوښتنه:- د جماعتت الدعوت الی القرآن والسنت تنظیم چې د مرحوم شیخ جمیل الرحمن رحمه الله له خوا تأسیس شوی دی، تاسو ددې تنظیم د مؤسس فعل و انفعالات څنګه بولې؟

www.libtool.com.cn

ځواب:- مرحوم شیخ جمیل الرحمن نهٔ یوازې د یو ستر او متبحر عالم په حیث د قرآن او سنت د حاکمیت دپاره د مبارزې جنډه پورته کړې وه او دیوه جهادي تنظیم په ذریعه ئې د روس د سوپر طاقت سره ډغرې وهلې دي، بلکې په سیاسي میدان کې هم یو وتلې شخصیت ګڼل کیږي، د جماعت الدعوت دی داعي وکولی شول د خرافاتو سره په مبارزه کې هم ښه کردار ادا کړي، اوس چه دغه تنظیم د شیخ سمیع الله په مشرۍ د اسلامي دولت سره د پروګرامونو په عملي کولو کې ملاتړ کوي ورسره جوخت ددیني ارشاداتو د بیانولو سلسله ئې هم د پخوا په شان جاري ده او دا داسې معنی لري چې دی تنظیم ددین او سیاست په کار کې خپل ټول اثر رسوخ وقف کړی دی.

www.libtool.com.cn

# بې اسرې افغان

لعل محمد افسوس

دا کـوم تنـدر راپريوتی، دا رالـوتلی کـوم طــوفـان دی
چـی د ژوند څـه قدر نشته، دلته مرگ څومـره ارزان دی

د خنـدا پـه ځـای ژړاده، خـوشـحالي خفـگان نيولې
څه احساس ورسـره نـشته، دا نـو څـرنگه انسـان دی

چی کفن هـم په ځـان نهٔ کـړي، هـم يـی قبر معلـوم نشي
دا دچا د زړهٔ ټکړې دي، چـې يـې حـال په دغه شــان دی

کور يې نشته گور يې نشته، نهٔ لباس او نهٔ خوراك يې
د پردي وطن سوالگر دی، پخپل ژوند باندې حيران دی

څه لحاظ يې معلـوم نهٔ دی، خو له ځيلمــې اور کــی سوزي
کـه ماشـوم دی او که ښځـه،که بـودا دی او کـه ځـــوان دی

هيڅ د ژوند اسره يې نشته، د خلاصون لارې پرې بندې
چاپيريال ورته تنور دی، ځمکـه کلکه پاس اسمـان دی

خپل يی نهٔ پرېږدي په کور کې، بل يې نه پرېږدي کوڅه کې
اخر کومې خواتـه لاړ شـي...؟ چارچـاپـير ورته زنـدان دی

نو لـــه چانـه گيـله وکـړم، چاتــه وژاړم فريـاد کـړم!
چی مې خپل پخپله وژني، کوم مې جرم او نقصان دی

د مــظلـوم افغـان قسمته، لا تـرڅـو به تـهٔ ويـدهٔ يـــې!
ستا خوب نهٔ دی بـس ماتـم دی، جهــنم دی او نيـران دی

ای "افسوسه" دا دظلـم، منزلـونه دې رب لنـــډ کړي
لاروی د نيمـو شپـو دې، پروت پـه خوشې بيابان دی

غلام حضرت

# فــــرياد

www.libtool.com.cn

نــن زمــا وطــن ورانيــزي څــكه ژاړم
د مظلــوم حــق پيماليــزي څــكه ژاړم

محبت او ورورولــي پــه چــا كــې نشته
د ورور سر په ورور غــوڅيږي څــكه ژاړم

د چا آب او په حياء څوك نظر نهٔ كړي
د هر چــا وينــې تويــزي څــكه ژاړم

نهٔ مې دوست او نهٔ دښمن پكې معلوم شو
دا څه وخت دى چې تيــريزي څــكه ژاړم

په وطن كې مې د سرو وينو باران دى
غريبان هر خــوا قتليزي څــكه ژاړم

د يتيم فــرياد او چغې دي هــر خواته
دا څگيروي مې نه هيريږي څــكه ژاړم

د نفاق سيلاب دى هر يو مسلم وړى
په پــيسو باندى خرڅيزي څكه ژاړم

اى "حضرته" حقيقت هم كه څوك وائي
نن پرې خلك خفه كيــزي څــــكه ژاړم

# په جلال آباد کې د «جماعة الدعوة» له نماینده ښاغلي مولوي محمد شریف سره

## مرکه

www.liftool.com.cn

دعالمانو، جهادي قوماندانانو او د نظر د خاوندانو سره د مرکو په لړ کې په کابل کې ددعوت د مجلې خبریال په جلال آباد کې دجماعة الدعوت الی القرآن والسنت د تنظیم دنماینده محترم مولوي محمد شریف «صوفي زاده» سره ددې نمایندګۍ د اهدافو او ددعوت په کار کې د همکارۍ او د موجوده سیاسي صورت حال په حقله یوه لنډه مرکه کړې ده چه په لاندې متن سره محترمو لوستونکو ته وړاندې کیږي.

په کابل کې د دعوت مجلې خبریال

پوښتنه:- په جلال آباد کې د جماعت الدعوت نمایندګۍ څه وخت او د کومو اهدافو د تحقق دپاره جوړه شوې ده؟

ځواب:- د ننګرهار د ولایت په مرکز د جلال آباد په ښار کې د جماعت الدعوت نمایندګي هغه وخت جوړه شوه کله چه مجاهدین فاتح د جلال آباد ښار ته راننوتل او د اسلامي حکومت بیرغ د ولایت په مقر کې ورپورته شو، مونږ هم د نورو جهادي تنظیمونو د نمایندګیو په څیر د اسلامي حکومت د ټینګښت دپاره په هلو ځلو کې یو، خو برسیره په دې هدف چه د قرآن او سنت د حاکمیت دپاره مو د خپلې لیارې مثال ګرځولی دی ددعوت او اشاعت کار ته مو د ټولو نه ترجیح ورکړې او په اختصاصي توګه ددې جماعت عالمان او مبلغین په خپل کار لګیا دي او همدارنګه یو هدف داهم دی چې د جهادي مشرانو سره باقاعده تماس ولرو او د اسلامي حکومت د استحکام په کار کې دتوان سره سم ونډه واخلو.

مونږ په دغه موده کې ددعوت او اشاعت تر څنګ د اجتماعي نظم په سمبالښت کې هم څومره چې لازم دي خپل فعالیت عیار کړی دی.

پوښتنه:- دننګرهار په سطحه ددې جماعت مجاهدین په حکومت کې کومې عهدې تر لاسه کړې دي او څنګه کولی شي د نظام د استحکام دپاره مد او مرستندوی وي؟

ځواب:- دهیواد په سطحه د جماعت الدعوت امیر شیخ سمیع الله دا وخت په جمهوري ریاست کې د مشاور وزیر په حیث عهده لري او د ګوتو په شمار نور غړي په کابل کې په رسمي وظایفو کې جذب شوي دي، خو په ننګرهار کې د ننګرهار د جهادي شورا او زمونږ د مشرانو دعدم همکارۍ په وجه د یادونې وړ سرکاري عهدې نلري، دبله پلوه مونږ هم چې د قرآن او سنتو د حاکمیت په زیار کې د اسلامي حکومت د جوړولو دپاره

څوارلس کاله مبارزه کړې، د څوکیو او عهدو په ځای د دعوت کار زمونږ د اهدافو او وظایفو په صدرکې ځای لري او د سرکاري ملازمتونو د پاره مو درخواستونه نه دي ورکړي.

مونږ د اسلامي نظام د استحکام دپاره لکه چې مخکې هم وویل شو په اختصاصي توګه جهاد کړی او هره مرسته او همکاري چې د دې جماعت په توان کې وي انشاء الله چې وبه نه سپمول شي.

خو یوه خبره شته او هغه دا چې د ننګرهار جهادي مشران او جهادي شورا باید مونږ ته د دعوت او اشاعت ښه امکانات برابر کړي او د یو جهادي تنظیم په حیث مونږ داخپل مسلم حق بولو.

پوښتنه:- په افغاني جهاد کې د جماعت الدعوت او خاص طور سره د مرحوم شیخ جمیل الرحمن رحمه الله کردار څنګه څیړئ او د جماعت وګړو ته د مرحوم نصایح او توصیه څه وه؟

ځواب:- مرحوم شیخ جمیل الرحمن رحمه الله د جماعت الدعوت الی القرآن والسنة د تنظیم باني او امیر په حیث دغه جماعت په لږ وخت کې د عقیدتي او سیاسي مبارزي لوړ معراج ته ورساوه، په جهاد کې د جماعت الدعوت او خاص طور د هغې د مشر کردار هر چاته معلوم دی او په دې برخه کې زیاتو تفصیلاتو ته ضرورت نه ګورم خو تر کومه ځایه چې شیخ زه د نیږدې پیژنم او همیشه ئې د لطف نه مستفید شوی یم ځینې ځانګړې او متواضع خصوصیات ئې لرل چې د هغې د جملې نه یو مثال دا هم کیدی شي چې دوی د عامو مجاهدینو سره یو ځای ناسته پاسته کوله یو ځای ئې ورسره ډوډۍ خوړله او بل داچې د ځان دپاره ئې کوم موټر هم نه وو اختصاص کړی د جهاد په لاره کې ئې په پوره سخاوت سره د هر چا او ټولو بې وزلو سره مرستې کولې او ټولو مجاهدینو ته ئې هم دا توصیه کوله چې باید د جهاد او دعوت په لاره کې بخل ونکړي، موحوم په دې خبره هم خپلو جهادي صفوفو ته په ټینګار سره ویل چې تر څو پورې جهاد مجاز وي باید په پوره صداقت او ایمانداري سره ورته دوام ورکړی شي. لکه چې دهم دې جهاد په دوران کې ئې د کورنۍ څخه شهیدان ورکړي او په پای کې هم پخپله په دې سپیڅلې لاره کې د شهادت جام وڅښلو.

پوښتنه:- په موجوده حالت کې چې د دولتي قواوو او دوستم ملیشو ترمینځ جنګ جاري دی او حزب اسلامي هم په کې رانښکیل دی، ستاسو او ستاسو د جماعت دریځ څه شی دی؟

ځواب:- د بده مرغه ټیك له هغه وخته چې په ملك کې سیاسي قدرت مجاهدینو ته حواله شوی دی ورسره جخت جنګونو اوذات البیني اختلافاتو زور اخستی دی چې په دې ټولو کې وروستی جنګ چې ټول نظامي قوتونه پکې په دوه برخو ویشل شوي ډیر سخت او ډیر تباه کوونکی دی. زه په مشخصه توګه چا ته د پړې او ملامتیا ګوته نه نیسم خو ددې مبارك ایت په استناد چې فرمائي (ولاترکنو الی الذین ظلمو فتمسکم النار) هر څوك چه کمیونستانو ته میلان لري او د خپلو څوکیو د ساتلو لپاره د هغوی نه کار اخلي او د مظلوم ملت په مقابل کې ځانونه پیاوړي کول غواړي دغسي کسان به د قیامت په ورځ د الله تعالی په حضور کې محاکمه کولی شي.

مونږ د سپیڅلي څوارلس کلن جهاد د اهدافو د تحقق په خاطر ټول تنظیمي او ډلیز جنګونه او اختلافونه جداً محکوموو او د الله تعالی په څمکه د قرآن او سنت په رڼا کې دیو پیاوړي اسلامي حکومت د جوړولو غوښتونکي یو په دې لاره کې مو شهیدان او قربانۍ ورکړې ده او تر هغې پورې به دې مبارزې ته دوام ورکړو، ترڅو دغه ارمان ترسره شوی نه وي. همدغه دی ځما هود او همدغه دی د جماعت الدعوت دریځ.

www.libtool.com.cn

په تير پسي

# د دين مفهوم

كليم الله «متين»

www.libtool.com.cn

## دين د قانون په مفهوم

دوهم مفهوم دا چه په عاجزۍسره اطاعت کول او پخپله خوښه او خپله غوښتنه فرمانبرداري کول، لکه چه په لسان العرب کی وائی: العبادة الطاعة ومعنى العبادة فى اللغة الطاعة مع الخضوع. وكل من دان لِملِكٍ فهو عابدٌ لهُ (و قومهما لنا عابدون) والعابد، اخاضع له به المستسلم، المنقاد لامره.عبدالطاغوت، اطاعه يعنى الشيطان فيما سول له واغواه. اياك نعبد، اى نطيع الطاعة التى يخضع معها، اعبد وربكم، اطيعوا ربكم.

يعنى: عرب وائي: عبادت اطاعت دي او د عبادت معني په لغت کي په عاجزۍسره تعبيداري ته وائي هغه څوك چي بادشاه ته نژدي وي نو هغه د بادشاه تعبيدار وي (او ددي دواړو قوم زمونږ تابع دي - الاية) او عابد عاجزي کونکي وي د هغه او تسليم وي او د هغه اوامرو ته غاړه اېښودونکي وي . د طاغوت عابدانو يعني شيطانانو په هغه څه چي وسوسه ورته واچوله او بي لياري ئي کړل نو دهغه تعبيداري ئي وکړه. (اياك نعبد) يعني تعبيداري کوو مونږ. هغسي تعبيداري چي عاجزي ورسره وي. (اعبد ربكم) يعني په عاجزي سره تعبيداري وکړه د رب خپل.نو دقاموس ددغو تشريحاتو سره سم غوښتنه يوازې د الله تعالى د عبادت او بندګۍ نۀده بلکه د هغه حکم ته بی له څنډه اطاعت کول او دهغه د شرعی قانون پخپله خوښه او خوښۍ پيروی کول او په سر سترګو د هغه «امر او نهی» ته غاړه اېښودل هم دی. د «دين» عبارت په عربی ژبه کی څو مفهومونه لری. چه يو ئی غلبه، قدرت اخستل، مالكانه او د واکمنی کول سیاست او فرمانروائی یا واکمنی تصرف کول او په نورو باندی فیصله نافذول دی لکه چه په لسان العرب قاموس کی وائی: دان الناس، ای قهر هم على الطاعة دنتهم ، ای قهر تهم، دنته، سسته، وملكته.

وفى الحديث الكيس من دان نفسه، ای اذلها و استعبدها. الديان، القاضى، الحكم، القهار، ولا انت ديانى، ای لست بقاهر لى فتسوس امرى، «ماكان لياخذ اخاه فى دين الملك، ای فى قضاء الملك.»

يعنى: د ان الناس غلبه ئي حاصله کړه پر تعبيداري باندي او په حديث شريف کي دي: هغه چاچي د قهر په ذريعه خپل نفس ذليل کړ او تعبيدارۍ ته ئي مجبور کړ. او په يو لغت کي قاضي ته هم ديان ويل کيږي ځکه چي قاضي د خپلو احساساتو په ذريعه شرعي احکام د نفاذ په صورت کي حاکموي او لکه چي په سورت يوسف کي دي: نه دي داسي چي واخلي ورور دۀ لره په دين د بادشاه کي يعني په قضاء د بادشاه کي.

دوهم مفهوم دی، اطاعت، غاړه اېښودل او غلامی کول.

په لسان العرب قاموس کی داسی شرح کوی: «الدين» الطاعة، دنته، و دنت له، ای اطعته، ودين الله، انما هو طاعته والتعبد له. فی الحديث اريد من قريش کلمته تدين لهم بهاالعرب. ای تطيعهم و تخضع لهم، ثم دانت بعد الرباب. ای ذلت له و اطاعته. يمرقون من الدين . ای انهم يخرجون من طاعة الامام المفترض الطاعه. المدين، العبد. فلولا کنتم غير مدينين اي غير مملوکين:"

يعنی: دين طاعت ته وائي دنته، ودنت له يعني دده تعبيداري وکړه، او د الله تعالي دين بيشکه دا د هغه تعبيداري ده او د هغه عبادت دي او په حديث کي دي: زه د قريشو څخه غوارم چي عرب د هغه کلمي تعبيداري وکړي په عاجزۍ سره بيا بعضي د رسوخ خاوندان تابع شول دوي ته او ذلت ئي اختيار کړ او تعبيداري ئي هم وکړه، خارجوي خپل ځانونه له تعبيدارۍ د امام خپل نه چي تعبيداري د هغه لازم وه، المدين، تعبيدار. پس کاشکی چي نه وائي تاسوته تعبيداري کونکي.

دريم مفهوم دا چه هغه عادت او لاره يا طريقه چه انسان ئی پيروی کوی (تعقيبوي ئی) لکه چه لسان العرب وائی:" الدين، العادة والشأن، يقال مازال ذلك ديني و ديدني، ای عادتي"

www.libtool.com.cn

يعنی: دين عادت ته هم وائي او شان ته هم لکه چي ويل کيږي: او هميشه دي دا زما عادت.

له دغو دريو مفهومونو څخه څرګنديږي چي «دين» په دغو اياتونو کي د هغه طرزالعمل او روئی په معني دي چه په هغي کي انسان د يو چا اطاعت ومني او د تسليم سر ورته ښکته کړي او دين د الله تعالی لپاره خاص کړي او د الله تعالی د بندګۍ مقصد دادي چه «انسان د الله تعالی په بندګۍ کولو کي بل هيڅوك شامل او شريك نه کړي بلکه يوازي د هغه بندګي وکړي، د هغه د هدايت تابعداري وکړي او دهغه د احکامو اطاعت وکړي او بس».

که چيرې د سورة الزمر ددغو آياتونو دغه مضمون چه بيان کړي شو په نظر کي ولرو نو په دي مطلب د پوهيدو په لاره کي به هيڅ مشکل او ستونځه نه وي چه (دين) معني د چا مشري، واکمني منل او دهغه حکم ته غاړه ايښودل. او کله چه دغه عبارت «دين» د طريقي په مفهوم وويل شي نو مقصد تري هغه طريقه يا لاره ده چه په انسان باندي ئی پابيعت کول او منل واجب او هرومرو وي او ددغي لاري ټاکونکي (مقرر کونکي) د اطاعت وړ وي. ځکه نو د الله تعالي د ټاکلي لاري «دين» د نوعيت لرونکي تشريع يا قانون سازۍ مطلب دادي چه هغه کوم سفارشي (RECOMMENDATION) او د وعظ او نصيحت حيثيت نهٔ لري بلکه هغه د الله تعالی د بندګانو لپاره واجب الاطاعت او ورته د غاړي ايښودني وړ قانون دي چي نهٔ منل او ورته غاړه نه ايښودل د الله تعالی له قانون او احکامو نه بغاوت دي او څوك چي ددغه قانون پيروي ونهٔ کړي او وئي نه مني نو په حقيقت کي د الله تعالی يعني د خپل خالق او پروردګار د سيادت او حاکميت او واکمنۍ نه او دهغه له بندګۍ نه انکار کوي او چه انکار وکړي نو مجرم او کافر شي.

تردي وروسته د سورة الشوري په هغه (١٣) آيت کي چه بيان کړي مو دي ارشاد وشو چه ددين نوعيت لرونکي دغه قانون جوړونه (تشريع) هغه قانون دي چه پخوا ئي نوح،

ابراهیم ، موسي، او عیسي علیهم السلام ته هدایت شوی ؤ او اوس محمد صلی الله علیه وسلم ته د قرآن په صورت کې ورکړي شو.

له دي ارشاد نه څو خبرې څرګندیږي، یوه دا چه الله تعالی خپل دغه قانون او تشریع نیغ په نیغه هر انسان ته نه دي ورلیږلي بلکه وخت په وخت چه کله ئي مناسب ګڼلي یو شخص ئي له خپلو بندګانو څخه رسول ټاکلي او دغه قانون ئي هغه ته ورسپارلي دي. دوهمه داچي دغه تشریع یا قانون سازي له لومړي سرنه تر پایه پوري یو شان ده. داسي نه ده چي کوم وخت چه د یوه قوم او ملت لپاره یو دین ټاکل شوی ؤ په کومه بله زمانه کی دبل قوم او ملت د پاره بل ډول دین یا مختلف او متضاد دین ټاکل شوي وي. د الله تعالی له خوا ډیر یاڅو دینونه، نه دي ټاکل شوي بلکه په بیلو بیلو وختونو کي چي رالیږلی شوي دي هماغه یودین رالیږل شوي دي. دریمه خبره داده چي د الله تعالی د واکمنۍ او سیادت سره د هغو خلکو رسالت منل چي د هغوي په وسیله دا تشریع رالیږل شوي ؤه او هغه وحي منل چي په هغه کي دا تشریع یا قانون جوړول بیان شوي دي، ددي دین لازمي برخه ده او د عقل او منطق غوښتنه او تقاضا هم داده چه باید ددي دین لازمي برخه وګڼله شي، ځکه چي انسان تر هغه پوري دغه تشریع یا قانون نشي منلي او اطاعت ئي نۀ شي کولي چي تر څو د الله تعالی له خوا دهغه په استناد (Avthentic) یا مستند کیدو باندي ډاډه او مطمئن نۀ شي.

تردي وروسته وفرمایل شول چي دغو ټولو انبیاؤ ته ددین نوعیت لرونکي تشریع ددي لارښووني او تاکید سره ورکړي شوي ده چي، «اقیموا الدین» ددي عبارت ترجمه شاه ولي الله صاحب محدث دهلوي داسي کړي ده چي «دین را قایم کنید» او شاه رفیع الدین صاحب او شاه عبدالقادر صاحب داسي کړي ده چي «قائم رکھو دین کو» دغه دواړه ژباړی دا معنی لري چي: «دین ټینګ یا مستحکم کړيء» او د عبارت سره سمي او په ځاي ژباړي دي.

د اقامت معني په عربي ژبه کي د قائم کولو او قائم ساتلو دواړه مفهومه ادا کوي چه په پښتو ژبه کي ورته سمه معنی (په پښو درول) ښه او موزونه معنی ده. انبیاء علیهم السلام

www.hbtool.com.cn

په دغو دواړو کارونو باندي مامور او مؤظف وو. د هغوي لومړۍ وظیفه او ماموریت داؤ چي چیرته چه دین ټینګ او مستحکم نۀ ؤ هلته ئي باید ټینګ کړي او په پښو ئي ودروي او دوهمه وظیفه او ماموریت ئي داؤ چي چیرته چي دین قائم ؤ یا قائم شو هلته ئي باید قائم وساتي. نو څرګنده ده چي د قائم ساتلو خبره په هغه ځاي کي راپیدا کیږي چي چیرته دین قائم شوی وی او که نۀ نو هلته چي قائم نوی قائم کول به غواړي او دغه کوښښ او مبارزه به جاري ساتله کیږي چي ترڅو هلته قائم شي.

اوس نو زمونږ په وړاندي دوه پوښتني شته، یوه دا چي د «دین» د قائم کولو نه مراد او مقصد څه دي؟ دوهمه دا چي پخپله «دین» څه شي دي چي د قائم کولو او بیائي د قائم ساتلو حکم ورکړي شوي دي؟ په دغو دواړو پوښتنو باندي باید ځان پوه کړو. د قائم کولو، ټینګولو یا د پښتو ژبی په ورځنۍ محاوره کي «په پښو درولو» عبارت داسي دي چه کله د یوه مادي او جسماني شي لپاره استعمال او پکار شي نو له هغه څخه

بسم الله الرحمن الرحيم

www.libtool.com.cn

# سرمقاله

# جهاد دڅه دپاره ؤ؟ او څه وشول؟

د افغانانو څوارلس کلن جهاد چی په حقه سره د یونیم میلیون شهیدانو، معیوبینو او معلولینو په قربانی بالاخره د یوی عظیمی فتحی په تر لاسه کولو سره په کابل کی د اسلامی حکومت جنډه ورپوله شوه، بی له شکه چی په ملی او بین المللی سطحه ئی د میړانی او جهادی هویت ریکارډ ټینگ کړ او نړیوالو ته ئی څرگنده کړه چی د الله تعالی په ځمکه د الله تعالی د قانون انفاذ او د کمونیزم د پوچی مفکوری د نابودئ دپاره همدا د الله اکبر تکبیر وکولای شول ددی جهانی بلاك ټول شیطانی تحریکونه دړی وړی کړی او د فی سبیل الله جهاد کارنامه د اسلام په تاریخ کی تسجیل کړی.

همدا اوس چی لاپه ټوله معنی د تنظیمی جنگونو له امله اسلامی حکومت نه دی قائم شوی او د جهادی څواکونو خپل مینځی اختلافات لا د پرسوب په حال کی دی، د ټولی نړی مسلمانان له یو مخی د افغان جهادیانو نوم په قدر او احترام سره یادوی او په دی لړ کی ئی افغانان د لوړ مقام خاوندان بللی دی. ددی خبری نه باید سترگی پټی نشی چی د شین سترگو ددغه یرغلگر فوځ په مقابل کی د افغانانو تاریخی پاڅون یو الهی حکم او فریضه وه او د همدی الهی استعانت په برکت وو چی مقابله د سوك څپیړی نه پیل او په توپ او ټوپك سره ئی د څوارلسو کالو وسله والی مبارزی نه وروسته د نړی دغه ستر طاقت په گونډو کړ او دغه ناشونی کار ئی شونی او ممکن کړ، خو راځئ چی وگورو جهاد د څه دپاره شروع شوی ؤ او څه وشول؟ اولا څه کیږی؟

د بده مرغه د جهاد د هماغه لومړی سر نه چی د اسلام د دښمنانو په واسطه د فی سبیل الله جهاد د یوی جنډی لاندی مبارزه په ډلو، ډلو د اسلامی تنظیمونو په نومونو سره وویشل شوه هری فرقی خپله خپله لاره مخکی کړه او د اسلام او جهاد په نوم ئی د سرو لښکرو سره مقابله کوله او د کابل د ملحد رژیم سره ئی ډغری وهلی، نو هره ورځ به ددی خبرونه هم خپریدل چی فلانی تنظیم د فلانی تنظیم نه دومره سړی مړهٔ کړل او فلانی ولسوالئ او یا علاقداری ئی ورنه

مراد د ناستي نه پاڅول يا پورته کول دي، مثلاً څوک سړي يا ښاروي پاڅول، يا يو پروت مادي شي پورته کول. لکه چي د کوټي ستن درول يا د بانس يوه لکړه درول مقصد وي، يا په يوه خالي ځمکه باندي يوه ودانـي درول. خو هغه وخت چي دغه خبره د يوهٔ غير مادي يعني معنوي شي لپاره وويل شي او د هغه د قائمولو يا په پښو درولو دپاره راشي، نو بيا تري هلته مقصد دهغهٔ شي لپاره يوازي او صرف تبليغ ګول نهٔ وي بلکه د هغه عملي کول، نافذول او په عملي ډول ترويج او رواجول وي. مثلاً مونږ دا وايو چي فلاني سړي خپل حکومت قائم کړو نو ددي ټکي معني دانهٔ ده چي هغه د خپل حکومت جوړولو لپاره تبليغ او دعوت وکړ بلکه مراد به ئي دا وي چي هغه ددغه هيواد خلك خپل حکم ته تابع او د حکم منونکي وګرځول او د حکومت ټولي اداري او څانګي ئي داسي تنظيم کړي چي د هيواد ټول نظم د هغهٔ د فرمانونو او حکمونو سره سم وچليږي.

همدغه شان کله چي مونږ وايو چي په هيواد کي عدلي محکمي قائمي دي نو معني ئي داده چي د عدالت او انصاف د په ځاي کولو لپاره قاضيان مقرر دي او دعوي، مقدمي او د هغو دفعي اوري او فيصلي او حکمونه کوي، نهٔ دا چي د عدالت او عدل او انصاف ښيګړي او مفاد بيانيږي او خلك پري قايليږي او مني ئي.

همدغه شان په قرآن مجيد کي حکم ورکړي شوي دي چي «لمونځ قائم کړئ» نو ددغه حکم نه مراد دانهٔ دي چي د لمانځه دپاره تبليغ وکړئ بلکه مقصد ئي دادي چي دغه لمونځ د ټولو شرائطو او ارکانو سره پخپله هم اداء کړئ او هم ئي داسي انتظام وکړئ چي په مؤمنانو کي منظم رواج او جاري شي، جوماتونه وي، د جمعي او جماعت د لمانځه اهتمام وي، دوخت دپابندي سره آذانونه ويل کيږي، امامان او خطيبان مقرر وي او په خلکو کي دا عادت او رواج عام شي چي په وخت وخت د لمانځه اداء کولو لپاره جماتونو ته ورشي.

له تشريح او بيان وروسته به په دي خبره باندي په پوهيدلو کي څه ستونځه او مشکل نه وي چي پيغمبرانو عليهم السلام ته چي ددي دين د قائمولو او قائم ساتلو حکم ورکړي شو نو له هغه حکم نه مراد او مقصد دانهٔ ؤ چي هغوي دي بس پخپله په دغه دين عمل وکړي او دا مقصد هم نهٔ ؤ چي هغوي دي ددغه دين لپاره نورو خلکو ته صرف او يواځي تبليغ وکړي او بس چي خلك ددغه دين برحق اوسيدل ومني. بلکه ددغه حکم نه دا مقصد او مراد هم ؤ چه هر کله خلك دغه دين بر حق دين او حق ومني نو وراندي دي ګامونه واخلي او دغه دين چي دوي حق او حقيقت منلي دي په عملي توګه دي ئي نافذ او رواج کړي چي د هغه سره سم عملي کړي شي.

په دي کي شك نشته چي دعوت او تبليغ ددي کار لازمي ابتدائي مرحله او لومړي پړاؤ دي چي تر هغه پرته دوهم پړاؤ ته رسيدل ګران دي، خو هر د عقل او پوهي خاوند پخپله ويني او پوهيږي چه په دي حکم کي دعوت او تبليغ ته د مرام او مقصد حيثيت ندي ورکړي شوي بلکه ددين قائم کول او قائم ساتل مقصد او مرام ګڼل شوي دي. دعوت او تبليغ ددغه مقصد د ترسره کولو ذريعه او وسيله ده خو مقصد نهٔ دي، څه دا چي څوك ئي د انبياؤ د ماموريت مقصد او يواځيني هدف وګڼي.

(ادامه لري)

www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

## په کوچنی اختر کی د

# تنظیم طلبه سلفیه دعوتی او تبلیغی پروګرامونه.

ددعوت مجلی خبریال د کنړ ولایت له اسدآباد څخه اطلاع راکړی چی د تنظیم طلبه سلفیه بلندیانو په حقیقت کی د یوی روښانی، پیاوړی او متحدی ټولنی په لور مؤثر ګامونه واخستل او دهر ډول عنادونو او تعصباتو پرضد ئی هم بنیادی اقدامات وکړل. د ورکوټی اختر لمونځ او خطبی په ټولو ځایونو کی په ګډه ددوی تر امامت لاندی انجام شوی. د ټولو اړخونو افراد ئی په یو صف کی ودرول او دوی ته ئی د اخلاص او صداقت عملی درس ورکړ. ددوی دغه مشن په واقعیت کی د شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) د عملکرد تمثیل کاوه او د کونړونو په ولایت کی ئی ډیر نیك اثرات پریښودل، داچه ددی ټولنی ځوان مسئولیت پیژندونکی نسل په دغه رنګه صفا او اخلاص د عمل ډګر کی ګامونه واخلی، نو مونږ ئی د روښانه مستقبل پیلامه ګڼو او ددوی څخه تمنا لرو چی دغه رنګه مشن جاری وساتی او په تدریج سره ئی ټول ملك ته پراخه کړی، ددوی لپاره د زیات توفیق او بریالیتوب دعا کوو.

«اداره»

د تنظیم طلبه سلفیه تر قیادت لاندی یوه دعوتی او تبلیغی قافله چی په دیرش تنو باندی مشتمله وه په ۹٤/۳/۱۰ نیټه د کونړ ولایت ته روانه شوه. اسدآباد ته له رسیدو سره سم دغه دعوتی وفد له قائمقام والی محترم مولوی صاحب غلام ګل او محترم قاری صاحب دین محمد او محترم جګړن صاحب شیرخان سره ملاقاتونه وکړل او له ملاقاتونو نه وروسته ئی په یو مختصر اجلاس کی فیصله وکړه چی د وفد غړی باید په ټول کونړ کی له خلکو سره د اختر په لمانځه او خطبو کی شرکت وکړی او لاندی څلور نقاط باید په نظر کي ونیول شی:

۱- د کوچنی اختر لمونځ او نور مراسم باید د قرآن او سنت په رڼا کی خلکو ته واضح او عملی شی.

۲- خلك باید د اتحاد او اتفاق لور ته دعوت او له تنظیمی، منطقوی، لسانی او قومی تعصباتو څخه وژغورل شی، څو ټول مسلمانان تر یوه قیادت لاندی راټول شی.

۳- د کابل روان جنګ او حالت چی پکی د مسلمانانو قتل عام او په لوړه د هغوی تعذیبول او عامی لاري بندول شامل دی باید د قرآن او سنت په رڼا کی وریاندی رد وکړی شی او هم دا باید توضیح او تشریح شی چی روان جنګ د

کمونستانو د واکمنی د بیا راتلو لپاره لار همواروی.

www.libtool.com.cn

٤- مجاهدینو ته د شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) په مشن باندی د استقامت او صبر تلقین ورکول چی هغه د قرآن او سنت له تنفیذ او د قرآن او سنت تعلیم عام کولو او د حدود الله له تنفیذولو او د امنیت عامه له تأمینولو او د جهاد خپل اصلی هدف گرځولو او د اسلامی حکومت له قیام ځخه عبارت دی، باید تدریس او تشریح شی. وروسته ملگری مختلفو منطقو ته تقسیم شول چی په لاندی ډول ذکر دی:

١- مولوی صاحب انصارالله اسمار ولسوالی ته.

٢- مولوی صاحب عبدالواحد مروری ته.

٣- مولوی صاحب اسدالله د کرهالی کلی ته.

٤- مولوی صاحب زاهدالله او حنیف الله د وټه پور ولسوالی ته.

٥- مولوی صاحب خوشحال خان د ننگلام کلی (پیچ ولسوالی) ته.

٦- مولوی صاحب ذبیح الله د وډیگرام کلی ته.

٧- مولوی صاحب نورالله او سعیدالله د نورگل ولسوالی ته.

٨- مولوی صاحب سراج الاسلام سرحدی لیوا (ځوکی ولسوالی) ته.

٩- مولوی صاحب محمد اسلام د خاص کونړ ولسوالی ته.

١٠- مولوی صاحب نقیب الله کولیگرام کلی ته.

١١- مولوی صاحب حمدالله د اراضی کلی ته.

١٢- مولو صاحب عبدالحی د پشد کلی ته.

١٣- مولوی صاحب بیان الله د ولایت مرکز اسدآباد ته.

دا چی په مرکز کی د اختر د ټول لمونځ پروگرام د قائمقام والی په هدایت د تنظیم طلبه په غاړه وو نو له دي وجی نه په مرکز کی نسبت اطراف ته ملگری زیات پاتی شول او هغه له ورور رحیم الله، ورور محمد سلیمان، ورور کفایت الله، ورور محمددین گل او ورور عبدالکریم «عبید» ځخه عبارت وو. نور ټول ملگری په خپل خپل وخت سره خپل خپل ټاکلی مقام ته ورسیدل او خلکو ته ئی د قرآن او سنت په رڼا کی ذکر شوی مواد د کوچنی اختر په خطبو کي بیان کړل او هم ئی له قوماندانانو او مشرانو علماؤ سره مختصر مختصر اجلاسونه وکړل، وروسته له ډیرو کامیابیو سره یوځای د تنظیم طلبه سلفیه ولایتی دفتر ته راستانه شول او په ولایتی دفتر کی ئی یو مشترك اجلاس وکړ او فیصله ئی وکړه چی ټول ملگری دي خپلو کورونو ته ستانه شی خو یو څو ملگری چی عبارت له رحیم الله «ملاتور» ، محمدسلیمان، عبدالکریم «عبید» او محمددین گل ځخه دي د ځینو تنظیمی کارونو په خاطر په ولایت کی پاتی شول او له همدی سره جوخت یو مختصر پروگرام په معسکرطیبه او سرحدی لیوا کي هم وشو، وروسته رحیم الله «ملاتور»، محمدسلیمان

«محمدی»، عبدالکریم «عبید» او محمددین گل د پیچ ولسوالي ته لاړل، څو د علماؤ له اتحادیې سره ملاقات وکړی او
www.lbtool.com.cn
هم به د جمعی مبارکی خطبی په ننګلام او مانوګی کی ورکړی، هلته ئی له ټولو علماؤ او مشرانو سره جدا جدا ملاقاتونه وشول او جمعاً ئی د جمعی خطبی هم ورکړی، ددی ټولو پروګرامونو له سرته رسیدو وروسته نوموړی وفد د تنظیم طلبه سلفیه مرکزی دفتر پیښور ته راستون شو.

نوموړی وفد په خپلو بیانونو کی یو متفقه قرارداد هم بیان کړ چی عمده ټکی ئي په لاندی ډول دی:

۱- ټول اسلامي تنظیمونه باید له خپلو لیکو څخه کمونستان لیری کړی او خپل ټول مادی او معنوی قوت د کمونیزم او کمونستانو پرضد عیار او استعمال کړی.

۲- د مسلمانانو قتل عام او په لوړه تعذیبول د اسلام منافی اعمال دي.

۳- موږ د تنظیم طلبه سلفیه نوجوانان د کونړ د نوی اسلامی اداری حمایت تر هغه پوری کوو چی دغه اداره د اسلامی امارت مشن جاری ساتی چی هغه عبارت دی له:

الف - د حدودالله تنفیذ.

ب - د عامه امنیت تأمین.

ج - د قرآن او سنت د تعلیم عام کول.

٤- په ادارو کی باید مسئولیت اهل افرادو ته وسپارل شی.

٥- په مخدره موادو او موسیقی باندی دي پابندی ولګول شی.

٦- په وسلی باندي دی پابندی ولګول شی.

۷- د لمانځه په وخت کی باید ټول بازار وتړل شی.

۸- د اداری مسئولین باید بی ګیری او فاسق اشخاص نه وی.

۹- په شعباتو او ادارو کی دی د قرآن او حدیث درسونه پیل شي.

۱۰- ټول مسلمانان باید د اتحاد د راوستو او د قومی، لسانی، تنظیمی او سمتی تبعیضونو او تعصباتو د امحاء لپاره مخلصانه کوټلی اقدامات وکړی.

۱۱- د کونړونو له قومی مشرانو، علماؤ، منورینو، مجاهدینو او مسلمانو عوامو څخه مطالبه کوو چی د کونړونو له اسلامی اداری سره د قرآن او سنت د حاکمیت او د عامه امنیت د تأمین په لار کی نه ستړی کیدونکی هلی ځلی او تعاون جاری وساتی.

## په کوچنی اختر کې د تنظیم طلبه سلفیه د تبلیغي او دعوتي پروګرام د موفقیت په مناسبت د جماعة الدعوت الی القرآن والسنت د امیر

www.libtool.com.cn

# الشیخ سمیع الله «نجیبی» پیغام:

تنظیم طلبه سلفیه چی د «جماعة الدعوة» د شهید بانی (رحمه الله) په لاس ایښودل شوی بنیراز بڼ او د ځوانو طالب العلمانو یو ژوندی او خوځنده تحریك دی، دوی چی د خپل دینی او تاریخی مسئولیت او بصیرت پر بناء د روانو کړکیچنو حالاتو په نظر کی نیولو سره د افتراق او اختلاف د مخنیوي په غرض کومی هلي ځلی پیل کړی او د خپل تبلیغی او دعوتی پروګرام له مخی ئی د کونړ د ولایت مختلفو ولسوالیو، درو، کلیو او باندو ته د کوچنی اختر او یا د جمعی د لمونځونو د اداء کولو لپاره کوم وفد لیږلی، د قدر وړ دي.

مونږ هیله لرو چی ددوي دا هلی ځلی به د نورو ښو او ګټورو پروګرامونو پیلامه او د نوي مسلمان نسل د روښانه مستقبل او روڼ سباؤن زیری شی، الله تعالی دی ددی تنظیم مسئولیت پیژندونکو اراکینو ته د خپل دین د اشاعت او وسعت په لار کي د زیات زغم او ثبات توفیق عنایت کړی. «امین»

مولوی سمیع الله «نجیبی» د افغانستان د جماعة الدعوت الی القرآن والسنت امیر.

همدارنګه د ولایت قائمقام والی ښاغلی مولوی صاحب غلام ګل، محترم قاری صاحب دین محمد او ښاغلی «مصلح» صاحب او د سرحدی لیوا عمومی قوماندان حاجی صاحب جانداد خان او نورو مشرانو د تنظیم طلبه سلفیه د نوجوانانو ددي ډول ګټورو هلوځلو په بیلابیله توګه ستاینی کړی او غوښتنه ئي کړی چی دوی باید خپل دغه مشن په راتلونکی کی هم جاری وساتی.

«وما توفیقی الا باالله العزیز»

www.libtool.com.cn

## د کونړ په ټول ولایت کی د روژې د مبارکی میاشتی د قرآن کریم د ترجمی دوری سرته ورسیدې.

ددعوت د مجلی خبریال د کونړ له ولایت څخه اطلاع راکوی چی د روژی په مبارکه میاشت کی د کونړونو د منتخب والي ښاغلی غلام صادق «قاضي اخونزاده» د فرمودې په اساس په ټول ولایت کی د قرآن شریف د تدریس او ترجمی دوری او یا حلقی جوړی شوی دی چی په دغو حلقو کی بی شمیره خلکو ګډون کړی وو او اکثره دوری د روژې د مبارکی میاشتې په اواخرو کی سرته ورسیدی .

علمای کرامو په ټولو دغو دورو کی د اسلامی اخوت، د عقیدی د تصحیح، د اخلاقو د تصفیې، د صداقت، امانت دارۍ او مسئولیت پیژندنی په موضوعاتو باندی رڼاګانی واچولی. د کونړ د جماعة الدعوت د شورې مسئول ښاغلی مولوی عبدالغنی د دعوت د مجلی له خبریال سره په مرکه کی وویل: ددعوتی حلقو او د قرآن کریم ددورو دغه رنګه پروګرامونه شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) د اسلامی امارت له قیام نه وروسته بنیان ګذاری کړی وو او ددی ځای علماء کرام په ډیر شوق او ذوق او محنت سره ددغی تګ لارې په تعقیب کی پوره هلی ځلی کوی. د یادونی وړ ده چی په دغو دورو کي ټولو ورونو په غیر د کوم تعصب څخه برخه واخسته او دغه دوری په خیر سرته ورسیدی. مونږه ددی دو د بنسټ ایښودونکي شهید شیخ «رحمه الله» روح ته دعا کوو او دغو مدرسینو ته توفیق غوښتنه کوو او برخه اخستونکو ته له الله تعالی څخه اجر عظیم چی محترم علماء کرام د خپلو فرائضو په پیژندنه د خیر دا ډول >‘

www.libtool.com.cn

# بحث معلوماتی در باره‌ء

# مسلمانهای مظلوم کردستان

کردها از نگاه حیثیت برجسته‌ء تاریخي و قومی خویش بر سطح شرق میانه دارای اهمیت خاص و قابل تعریف وستایش بوده اند، نام اصلی این قوم در اوراق تاریخ قدیم به اسم «ماد» نقل شده است.کردها قبل از رسیدن دعوت اسلامي یك مملکت مستقل داشتند که مرکز آن شهر «همدان» که فعلاً در چوکات اداری ایران قرار دارد، بود و تقریباً یك هزار و دو سال قبل به دین مبین اسلام مشرف شده اند، و بعد از قبول نمودن دین مبین اسلام در جهت اشاعت و تنفیذ دین مبین اسلام به سطح شرق میانه با شوق و ذوق کامل با استفاده از لسان و کلتور و فرهنگ مستقل شان در بذل جد وجهد خویش دریغ و سهل انگاری نور زیده اند که مدت دو صد سال در دوران جنگهای صلیبی در جهاد في سبیل الله عملاً شامل بوده و در همین دور تاریخ مهم اسلامي سهم فعال خود را مردانه وار ایفأ نموده اند. نسبت قومي فاتح کبیر اسلام سلطان صلاح الدین ایوبی نیز به کردها منسوب و متعلق میگردد.

موضوع مشکلات عایده بیشتر از سی ملیون کردها از یکصد سال به این طرف از مسائل مهم شرق میانه به شمار میرود، کردها از لحاظ سکونت شان در ایران، ترکیه، عراق، سوریه، اندکی در ارمنستان و ازربایجان مستقر هستند که مطابق یك احصائیه مناطق مسکونی شان مجموعاً ساحه (۷٤۰۰۰) کیلو متر مربع زمین را در بر گرفته است، کردها از جمله نفوس عراق (۱۸) فیصد را تشکیل میدهند و در ایران بمطابق احصائیه غیر موثق به تعداد هفت ملیون بالغ میگردد. این قبائل کوهستاني به خاطر استقرار اینها در شرق میانه دارای اهمیت خاصی میباشند.

حینیکه در سال ۱۹۵۸م بتوسط حزب بعث انقلاب به میان آمد بادشاه سابق ایران میخواست که کردها را راجع به آزادی شان از عراق تحریك نموده تا در مقابل عراق قیام نمایند، همان بود که به اساس تحریك بادشاه ایران کردها در مقابل عراق قیام نموده و در سال ۱۹٦۱م جنگ را علیه آنها آغاز نمودند. کردها در مقابل عراق قیام نمودند که این جنگ تا پنج سال دوام داشت، در نتیجه در سال ۱۹۷۰م به اساس یك معاهده جانبین بر پانزده مورد جنگ متوقف ساخته شد و حکومت عراق به اساس این موافقه آزادی خانگی کردها وتحفظ کلتور و لسان آنها را رسماً اعلان کرد. در برج مارچ سال ۱۹۷۵م وقتیکه روابط بین ایران وعراق حسنه شد، درین رابطه بادشاه ایران از پشتبانی کردها دست

برداشت. به این اساس هزاران کردها در مقابل عراق بی یار ومددگار به جا ماندند که بعد از این واقعه مصطفی برزانی، زعیم کردها راجع به پشتیباني خویش از امریکا در خواست نمود ولی نتیجهء مثبت نداشت به این سبب کردها با تلفات و خیم مواجه گشتند در سال ۱۹۷۸م وقتیکه در ایران انقلاب خمینی به میان آمد کردهای شیعه مذهب مقیم عراق در رابطه با حکومت شیعهء ایران دست به بعضی تحرکات زدند ولی عراق در مقابل این عمل پشتیبانی چند ممالك عرب و آمریکا را با خود جلب کرد و کردهائي مقیم ایران را بر ضد حکومت ایران آماده به قیام ساختند، به این اساس یك بار دیگر مسئله کردها مورد بحث جهانیان گردید و شدت گرفت، در سال ۱۹۸۰م در دوران جنگ بین ایران و عراق فعالیتها و سرگرمی کردهای مقیم ایران و عراق از سرگرفته شد، ولي قابل ذکر است که ایران، ترکیه، عراق، وسوریه پشتیبانی گروپهای چریکی کردهاي مقیم درین ممالك را بطور متجزأ عملاً مطرح ساخت و فیصله نمودند که در صورت حسن روابط در بین این ممالك هر یکی ازین ممالك میتوانند تا به مقدار ده مقر و یا زیاده ازین راجع به خاموش ساختن فعالیت های کردها مداخلت عسکری خویش را مرعي داشته باشند. این اقدام مشترك این ممالك بود که به ارتباط کردها مطرح کرده شد. همچنان در سال ۱۹۸۳م کردها در مقابل ترکیه قیام مسلحانه نمودند، اما به خاطر اینکه کردها از تائید وتعاون بیروني برخوردار نه بودند، ترکیها توانستند تا قیام کردها را به پیمانه کافی بکوبند. البته کردهائیکه در ترکیه بالای کوه های بلند سکونت داشتند و راه تجارت ترکیه در کنترول اینها بود، قافله هائی تجارتی را به تا راج می بردند و ترکیه را تحت فشار نگه میداشتند، ولی حینیکه جنرال کنعان حکومت نظامي را در ترکیه اعلان کرد، همهء قیام ها در ترکیه را خاموش ساخت، خصوصاً این کردها را با قصاوت و بی رحمی تحت فشار آورده حتی ۳۵ نفر کردها را به اثر اتهام کودتا اعدام و ۲۷ نفر کردهای دیگر را به قید دوام و ۳۳۳ نفر کردهای دیگر را به قیدهای مختلف المدة محکوم کردند و هزاران کردهای دیگر را تحت قوانین نظامی زیر حراست و تعقیب حساس قرار دادند.

www.hbtool.com.cn

اما درین زمان از جمله تنظیمهای فعال کردها یك تنظیم چریکي مشهور بنام (پیش مرگ) است که در اطراف ایران و عراق مشغول به فعالیت میباشند یك گروپ آن در عراق و دیگر گروپ آن در ایران بر ضد حکومات این دو ممالك مصروف به فعالیت هستند. کردها در عراق چندین تنظیمهای سیاسی فعال دارند که یکی از آنها به نام سازمان دیموکراتیك کردها است که تحریك وطن پرست کردها در پهلوی راست این سازمان قرار دارد. در سال ۱۹۸۳م افواج عراق مرکز این سازمان را روی یك تکتیك در محاصره گرفته و بي رحمانه تحت ضربات شدید قرار دادند.

همچنان در سال ۱۹۸۸م حینیکه جنگ عراق و ایران خاتمه یافت، عراق فرصت این را در یافت تا افواج خودرا علیه کردها بفرستند و با استفاده از اسلحه کیمیاوی و زهر آلود بی رحمانه این تحریك را کوبیدند که این یورش

بی رحمانهء عراقی ها یك یورش تاریخی بر ضد کردها به شمار میرود.

درین آواخر به نسبت حملهء عراق بر حکومت کویت که در نتیجه ۲۷ ممالك متحد بر ضد عراق مصروف جنگ گردیدند دیده شد که عراق، به شکست مواجه است بناءً با استفاده از این شکست کردها توانستند تا فعالیت تحریکي شان را آغاز نمایند، گر چه این قیام از نگاه کمیت و کیفیت دارایٔ اهمیت خاصی بود که چندین قطعات عسکری عراق به این تحریك پیوسته و تسلیم شده بودند، اما با این همه صدام توانست تا با استفاده از خطرناك ترین اسلحه این تحریك را بکوبد، به این اساس صدها هزار عراقی ها مجبور به این شدند تا خانه و مناطق مسکونی خویش را ترك گفته و به طرف ایران و ترکیه هجرت نمایند. در دوران این هجرت که مهاجرین در بین کوه های بلند و پراز برف بیفر داشتند، هزاران اطفال و اشخاص سال خورده زنان وجوانان به اثر هوای سرد شدید و به اساس نیافتن وسایل ضروری جان خود را از دست دادند. به استناد راپور یك خبر نگار امریکائی صورت حال چنین بود که در قبرهای دسته جمعی (۲۰- ۲۰) نفر اطفال و همچنان جوانان و پیران و زنان دفن کرده میشدند، بالآخره امریکا و ترکیه جهت حل مشکل این کردها تصمیم گرفته و خواستار این شدند تا در سمت شمال عراق یك منطقه مصئون تعین گردد و کردهائیکه در ایران و ترکیه مهاجر اند به آن منطقه انتقال داده شوند.

همان بود که امریکا بتوسط (۵۰ پروند) هیلی کوپتر مواد ارتزاقی و دیگر مواد مورد ضرورت به این مهاجرین را انتقال داد و این سلسله تا چند مدت جریان داشت، با این همه به این مهاجرین صرف روزانه نان یکوقته میسر میشد و دیگر ضروریات چون آب ، کمپل ها، خیمه و غیره تدارك نمي گردید.

زعمائي کرد نظر به اینوحالت زار و مشکلات قابل تشویش ملت شان مجبور به این شدند تا با صدام حسین دور میز مذاکره گرد آمده وروی حل مشاکل بحث نمأیند. در نتیجه یك سلسله مذاکرت صدام این را قبول نمود که کردهای عراق در امور داخلی شان آزاد باشند و بس. راجع به مشکلات کردها مقوله مشهور است که (کردها در دنیا هیچ دوست ندارند) بنا بر مقوله مذکور ثابت و راست است که کردها با این همه مشکلاتي که در راه کسب آزادي خویش برداشت نموده و از هیچ نوع قربانی دریغ نورزیده اند لیکن متأسفانه که هیچ نتیجه بدست نیا وردند.

تحمیل این چنین غموم و اضطراب نسبت به کردهای عراق و نسبت به سازمان حقوق بشر یك فاجعهء فراموش ناشدنی است، ما اقوام مسلمان افغانستان که از دست مظالم وستم های کمونستها و روسها روز های سخت هجرت را دیده و مشکلات زیادی را درین رابطه برداشت کرده ایم بناءً مشکلات برادران مسلمان کردی خویش را میتوانیم خوب احساس نمائیم و از روی احساسات اسلامي و همدردی خویش را با برادران کرد نشان می دهیم.

www.lib.org.cn

# په صومالیا کې څه تیریږي؟

ژباړنه: مولوی عبد الحلیم «شفیق»

صومالیا د اسلامي هیوادونو له جملې څخه هغه هیواد دی چې له بده مرغه د افریقی د براعظم په سطحه په بشری کړغیړن تاریخی دور کی قرارلری. په دغه هیواد کی هم د انسانانو مرگ خورا ارزان او له حده ډیر دی، غالباً د نړی په بله کومه برخه کی به دومره طبیعی تباهی وجود ونلری. ددغه هیواد اوسیدونکی نر او ښځی، ځوانان او بوډاګان د صحت په اعتبار خورا ضعیف او له رنځه ډك دی او په عمومی ډول پری له یوی خوا لوږه مسلطه ده او له بلی خوا مسلح ډاکوان، لاری شکونکی او لوټ ماران هغه یوه مړی ډوډی چی دوی ئی په ډول ډول تکلیفونو لاس ته راوړی ددوی له خولی څخه په تهدید او جبر راوباسی.

صومالیا «٦٣٧٦٥٥» کیلو متر مربع مساحت لری چی د افریقی په شرقی قاره کی واقع ده د سرحدونو په اعتبار ددغه هیواد ختیځه برخه له حبشی یا ایتوپیا او شمال لویدیځه برخه ئی له جیبوتی سره او جنوب لویدیځه برخه ئی له کینیا سره نښتی ده. د استواء خط ددغه هیواد له منځ نه تیریږی، د هند د سمندر پر غاړه او د عدن د خلیج په جنوب کی پروت دی، نفوس ئی د ۱۹۸۳ میلادی کال له احصائی سره سم (٦٢٤٨٠٠٠) تنو ته رسیږی چی ۹۹ فیصده اوسیدونکي ئی مسلمانان دی، ۳۰ فیصده وگړی ئی په ښارونو کی اوسیږی، او د ۱۹۸۱ میلادی کال د احصائی مطابق د صومالیی مجموعی وگړی ۱۰ فیصده خلك باسواده دی. ددغه هیواد پایتخت «موگادیشو» دی چی ۱۱ فیصده نفوس په کی هستوگنه لری، ۹۰ فیصده وگړی ئی د بومی نژاد او ۳/٦ فیصده وگړی ئی له بانتو قبیلی سره متعلق او ۱/۱ فیصده وگړی ئی د عربو له نسل څخه دی. ددغه هیواد رسمی ژبه صومالیائی او همدارنگه نوری ژبی لکه غفاري، ایتهالیائی، عربی، انگلیسی او داسی نوری هم پکی مروجی دی.

ددغه هیواد مشهور او مهم ښارونه (هرجیسه، مرکا، بربره) نومیږی، مهم بندر ئی د موگادیشو ښار دی چی د بحر هند په ساحل کی واقع دی او بل ئی د بربری بندر مشهور دی چی د عدن په خلیج کی قرار لری، صومالیا په مخکنیو کلونو کی د (۲۵) غریبو او محتاجو ملکونو له جملی څخه شمیرل کیدهٔ، غوره زراعتی پیداوارئی مالوچ، بادام، او گنی دی او د اکثرو اوسیدونکو کسب ئی مالداری ده. د ډیرو سکرو او نورو مختلفو موادو معدنونه هم لری، کله چی له دوهم نړیوال جنگ څخه لږ څهٔ مخه اروپائیانو په افریقی باندی یرغل وکړ نو د صومالیا څه خاوره انگلستان، فرانسی او ایتهالیی ونیوله او د نړیوالی دوهمی جگړی په دوران کی د (۱۹٤۰ عیسوی کال دٔ اکتوبر په میاشت) کی ایتالیا د صومالیی نوری ډیری سیمی هم ونیولی لیکن په ۱۹٤۱ عیسوی کال کی انگلستان پر دغو سیمو یرغل وکړ او له ایتهالیا څخه ئی په خپله قبضه کی راوستی، بیا په کال ۱۹۵۰ کی د ملگرو ملتونو سازمان د ایتهالیا څخه دغه نیول شوی سیمی بیرته ایتهالیی ته تسلیمی کړی چی په کال ۱۹۵٦ کی ددغو سیمو اوسیدونکو له ایتالیا څخه آزادی تر لاسه کړه، همدارنگه په کال ۱۹٦۰ عیسوی کی انگلستان د

www.libtool.com.cn

قبضه کړه او داسی نور ...

www.libtool.com.cn

که په دی لاره کی به ډلو ته هر څومره نصیحتونه کیدل او منځ ګړو به پکی کردار اداء کاوه هیڅ ځای ئی ځکه نه نیوه چی په دی مبارزه کی سیاسی او نظامی ملاحظات دخیل وو او کله به د اقتصادی ګټو په سر هم د تنظیمونو ذات البینی مناسبات خرابیدل.

خو ددی ټولو اختلافاتو سره سره بیا هم د مجاهدینو دوستانو دا طمعه لرله چی د فتحی او اسلامی حکومت د جوړولو په وخت کی به دا ټول اختلافات یوی خواته پریږدی او ټولی اسلامی ډلی به په یو مشترك هدف راټولیږی، خو د (۱۳۷۱ هـ ش) کال د ثور د میاشتی اتمی نیټی عملاً وښودل چی د مجاهدینو د فتحی په هماغه اوله ورځ د اسلامی حکومت هرکلی په توپونو او راکټونو سره پیل شو او د پخوا په شان د مسلمان وژنی بوګنونکی تراژیدی د څوارلس کلن جهاد او فتحی ټول ارمانونه د خاورو لاندی کړل.

دا چی د تیرو شلو میاشتو ډله ایز او تنظیمی جنګونه د څه دپاره کیږی عیان ته پکی د بیان څه ضرورت پاتی نه شو او هر مؤمن مسلمان ولیدل چی زمونږ د مشرانو په اوړو کی شګی راووتی او هر لیډر، هر قوماندان د فی سبیل الله جهاد په ځای د کلاشنکوف او ډاټسن قیصه مخکی کړه او «میم زرما ټوله زما» د حصول دپاره ئی د جهاد ټول اهداف او فرائض شاته وغورځول، د امن په ځای قتل قتال، د حکومتی سیستم او نظام په ځای ځان غوښتنی او شخصی تمایلاتو نهٔ یواځی د افغانستان مرکز ښکلی کابل په کربلا بدل کړ،بلکی د همدی ډلو او تنظیمی ذات البینی اختلافاتو په وجه د جنګ د اور دغه لمبی ټول هیواد ته ورسیدې، د هر اداری واحد قابضانو خپله انتظامیه جوړه کړه، کلی او کوڅی سره په نخښه کړای شوی، دخلکو نه د ناجائز استحصال او اشتقاق دپاره په لویو لارو کی پاټکونه واچولای شول، وزارتونه او ریاستونه ددی په ځای چی کار په کی اهل کار ته وسپارل شی په پټو سترګو تقسیمات کړای شول او د اسلامی او جهادی شعایرو خلاف د وحشت او بربریت یوه توره دوره په ټول ملك کی راخپره شوه.

د تعجب وړ خبره خو لا داده چی هر جهادی مشر او قوماندان چی دا وخت په بیانونو خوله پرانځی نو د ټولو نه اوله جمله ئی داوی چی مونږ په هیواد کی سوچه اسلامی حکومت جوړوو، خو چی د عمل وخت راشی نو بیا ئی د چوکۍ او اقتدار دپاره توپونه چو کړی وی او یو مجاهد د بل مجاهد دپاره په کمین کی ناست وی. د پخوانی رژیم کمونستان چی د همدی یارانو د اختلافاتو په رڼا کی تقویه کیږی، سیاسی سرپټوب ته رسیږی، بیا هم په جنګ کې اخته مشران خپل

صوماليي خاوره خوشي کړه او همدغه کال ددوارو برخو اوسيدونکو له يو بل سره اتحاد وکړ او د صوماليا متحد او خپل واك هيواد تشکيل کړل شو.

صوماليا د وروستني ملکي تقسيم په اعتبار له (۱۵) ناحيو څخه تشکيل شوی چې بيا د حوزو په لحاظ (۷۸) برخې لري، صوماليا وروسته له هغې نه چې خپل استقلال ئې تر لاسه کړ له خورا لويو اندېښنو سره مخامخ شو چې له حبشي سره ئې سرحدي لانجې او د وچ کالۍ پيښې ئې د يادولو وړ دي. دصوماليي او ايتوپيا سرحدي لانجه د (ارګان) د اياالتونو او د ارګان د صحرا په سرده چې اوس هم دغه سيمې د ايتوپيا په واك کې دي. په هغو جنګونو کې چې ددوارو ملکونو تر مينځ له ۱۹۷۰ څخه تر ۱۹۷۸ کال پورې پيښ شويدي، په زرګونو کسان وژل شوي او ټپيان شويدي او د (۱۳۰۰۰۰۰) تنو په شاوخوا کې د خپل هيواد پرېښودلو ته مجبور شويدي. همدارنګه په صوماليا کې د قحطۍ او وچ کالۍ په وجه د کورنيو جنګونو اور لګيدلي چې ددغه هيواد فقير او محتاج خلك په ډول ډول مصيبتونو کې راښکيل شويدي. نن د صوماليي خلك په يو ګوټ اوبو اويوې ټوټې ډوډۍ پسې ځانونه قربانوي او په دغه ډول ددغه هيواد (۷) مليونه نفوس له يوې ورځې نه د بلې ورځې په نسبت د کميدلو په حالت کې دي، ددغه هيواد په سل ګونو بد نصيبه اوسيدونکی ددېرو لږو خوراکي موادو د ترلاسه کولو لپاره په لېرې پرتو سيمو کې دمرستو مرکزونو ته ځانونه رسوي او په اوږدو قطارونو کې د موادو د انتظار په حالت کې خپل ژوند له لاسه ورکوي او په دسته جمعي ډول په قبرونو کې دفنيږي، سره له دې چې په پراخه پيمانه امدادي خوراکي مواد د ځمکې او هوا له لياري صوماليا ته راوړل کيږي خو متأسفانه چې ددغه هيواد د اوسيدونکو اړتياوې پرې نه پوره کيږي.

په داسې حال کې چې صوماليا د خپل نظامي حيثيت په استناد چې د سوړ جنګ په دوران کې د استعماري قوتونو په وړاندې د افريقې د يو شاخ په حيث د امتياز خاوند ؤ. ليکن دابر- قدرتونو د منحرف جدوجهد په اساس دغه يو موټي هيواد د اربابانو او قبائيلي سردارانو د بې انصافۍ او ظلم په اساس په څو مختلفو برخو وويشل شو، دغه اربابان او قبايلي سرداران چې هر يو ئې خطرناکه روسي، امريکائي او ايتاليائي ساخت اسلحه په واك کې لري، د کورنيو جنګونو يوه ډېره بده زمينه ورته مساعده شويده، متبادلې وژنې ، خونړي جنګونه، د خوراکي موادو چورچپاول ددوی ورځنۍ مشغله ده، له دغه حالت څخه داسې معلوميږي، چې د ژوند تيرولو حق بس هغه چاته حاصل دی چې وسله ئې په لاس کې وي، عام خلك د ژوند له خوږو څخه په پوره ډول محروم دي. همدارنګه که ددغه هيواد عام وګړي د قحطۍ او لوږې له پنجو څخه خلاص هم شي نو د وسله والو ډاکوانو له طرفه نه يواځې دا چې کيږي بلکه له ژوند څخه محروميږي که څه هم چې په صوماليا کې کله ناکله باران کيږي خو له بده مرغه چې ددوی زراعتي ځمکې په مکمله توګه ويجاړې شوي د کروندې او زراعت جوګه نه دي، په دغسې حالاتو کې کروندګر مجبور دي چې هغه تخمونه چې دمرستو له مرکزونو څخه ئې تر لاسه کړي،ددې پرځای چې د کرهنې په توګه ئې استعمال کړي، دورځنۍ خوراك په توګه کار ترې واخلي، په دغسې حالت کې باراني موسم ددې پر ځای چې عامو خلکو ته په فايده تمام شي کيدلی شي چې دفن شوي جسدونه او د ځمکې لاندې د ګندګيو ډېرانونه رابهر کړي او خلك به ورسره په هلاکونکو مرضونو لکه وبا، هيضې او نورو مختلفو امراضو مبتلاء شي او دا وضع به وروستی تباه کوونکی قدرتي ګذار وي چې صوماليا به ورسره مخ شي. په اټکلي توګه دا ويلی شو چې د صوماليي په زرګونو اوسيدونکي خلق به تر دله- ايزې مړينې وروسته هم د بهرنيو هيوادونو مرستو ته محتاج وي. که څه هم چې نړيوالې ټولنې په دې خبره باور لري چې له صوماليا څخه زيات

www.lbtool.com.cn

www.libtool.com.cn

بل څوك د مرستو او انساني همدردۍ حق او ضرورت نه لري ليكن د سوماليي مصيبت ځپلو خلكو ته د هغو ضروري خوراكي مرستو رسول په اوسني صورت حال او امنيت كې ناممكن ښكاري، څه موده مخكې يوه د C 130 قسم باروړونكې الوتكه چې د ملګرو ملتو د سرې مياشتې له خوا خوراكي مواد پكې بار وو او د سوماليي بې وزلو خلقو ته وړل كيدل چې د سوماليي د ډاكوانو او لوټ مارو او مسلحو وحشيانو لخوا دډزو تر بريد لاندې ونيولی شوه. كه څه هم چې الوتكه او پكې سواره كسان سلامت او د موادو په رسولو او واپس تللو كې بريالي هم شول، ليكن د يو څه مودې لپاره د سوماليا پر بې وزلو خلكو مرستې بندې شوې. په ١٩٩٢ كال د ډسمبر د مياشتې په لومړنيو ورځو كې د سوماليي پر مركز موګاديشو بندر باندې د يوې وسله والې ډاكه مارې ډلې لخوا بريد وشو چې په نتيجه كې ئې ٣٠٠ ټنه خوراكي مواد او ١٠٩٩ بيلره غوړي له ځان سره يوړل، لدې پيښو څخه وروسته د موګاديشو بندر د دوه هفتو لپاره وتړل شو. څه موده مخكې د پاكستان د فوځ دوه وسلوالې ډلې د ملګرو ملتونو د وسلوالو ګروپونو په چوكاټ كې د سوماليي مركز موګاديشو ته ورغلي وې، دغو عسكرو دا وظيفه درلوده څو دموګاديشو دبندر د امدادي خوراكي موادو د حفاظت لپاره چې د مرستو د رسولو صورت حال يقيني كړي شي د څه ٣٠٠٠ مسلحو عسكرو ضرورت ليدل كيږي، پدې وجه ټول هيوادونه ددې فكرمند دي چې كه چيرې د سوماليي مسلح ډاكوان پر دغو عسكرو باندې حمله وكړي نو د زندګۍ اوضاع به څه شكل ځان ته غوره كړي؟، د (نيوزويك) مجلې په خپله (٢٨) ګڼه كې د متحده قامونو د يو كار كونكي له خولې داسې ليكي: «هرڅه چې كيږي مونږ بايد هغې ته امادګي ولرو او كه چيرې ضرورت پيښ شي نو دغه شر غوښتونكي كسان بايد د خپلو اعمالو په جزاء ورسول شي، ليكن د زيات شمير نړيوالو مرستو د مركزونو كاركونكي له دغې وضعې څخه خورا ډيره انديښنه لري او وائي: كه دغه اور ولګيدو او كوم سومالياني ددغو عسكرو له خوا مړ شو، نو ټول هغه خارجي خلق چې په سوماليي كې دي، دډاكوانو له مردكۍ څخه به خلاص نه شي، په داسې حال كې چې كه چيرې د سوماليي وضعه په همدې شكل جاري وي نو د نړۍ خلك څنګه كولی شي چې دغه بد نصيبو او مصيبت ځپلو خلكو ته كومك ورسوي؟ دغه قسم وضعې د سوماليي مظلومو خلكو ته د مرستو او خوراكي شيانو رسول له ستونزو سره مخامخ كړي دي او هره ورځ په زرګونو كسان د خوراكي موادو د نه رسيدلو په وجه خپل ژوند له لاسه وركوي. د لندن د متحده قامونو د يو امدادي مركز (مسلم ايد انترنيشنل) د معلوماتو له مخې په سوماليي كې اوس في الحال (٩٤٠٠٠) تنو د قحط او ولږې په وجه ژوند له لاسه وركړی دی او (٢١٠٠٠٠) تنه نور په داسې حال كې قرار لري چې په لحظو كې د خپل مرګ انتظار كوي او (٣٠٠٠٠) تنه نور داسې خلك دي چې د سر پناه په تلاش كې سرګردان ګرځي. په عمومي توګه دا ويل كيږي چې سوماليا د خپل راتلونكي ژوند په لحاظ له يو هيبت ناك صورت سره مخامخ دی. كه چيرې څه زيات شمير ماشومانو ته د خوش نصيبۍ په اساس د صحت چانس ورپه برخه شي او له حتمي مرګ څخه په موقتي طور بچ پاتې شي، نو د لوږې هيبت ناك مرض به هميشه ورسره ملګرې وي ( الا ماشاء الله) د سوماليي د بې وزلو او مصيبت ځپلو خلكو ددې بد حالت پوښتنه او غم شريكي د ټولو مسلمانو هيوادو مسئوليت بلل كيږي، په دې اساس د خليج هيوادونو ته په خصوصي توګه او نورو اسلامي هيوادونو ته په عمومي توګه د سوماليي د ضروري او حياتي مشكلاتو د حل په حقله نهائي جدوجهد پكار دی چې وئې كړي.

«ومن الله التوفيق»

په تړو پسې

# د نبوي ملغلرو امیل

**له کور نه د وتلو دعا:** د حضرت ام سلمه رضي الله تعالی عنها څخه روایت دی چی کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم له کورنه وتلو نو د اسمان لور ته به ئی وکتل او دا دعا به ئی لوستله:

اللهم اني اعوذبك ان اضل او اضل او اظلم او اظلم او اجهل او يجهل علی. (مشکوة صـ ۲۱۵)

ترجمه: ای الله! زه له تا پناه غواړم مخکی له دی نه چی زه ګمراه شم یا می څوك ګمراه کړی. یا په چا باندی ظلم وکړم. یا په ما باندی څوك ظلم وکړی. یا جاهل شم او یاله ماسره څوك جاهلانه رویه وکړی.

**بله دعا:** له کورنه د وتلو په وخت کی دا دعاهم برکت او ثواب لری.

بسم الله توکلت علی الله لاحول ولاقوة الا بالله (مشکوة باب الدعوات فی الاوقات فصل دوم)

ترجمه: شروع کوم په نوم د الله تعالی. ما په الله تعالی بروسه وکړه له تاوان نه ځان ساتلو او ګټی حاصلولو توان نلرم مګر د الله تعالی په توفیق سره.

**جماعت ته د داخلیدو دعا:** له حضرت فاطمه رضی الله عنها څخه روایت دی چی کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم جماعت ته ننووت نو دا دعا به ئی لوستله!

بسم الله والصلوٰة والسلام علی رسول الله رب اغفرلی ذنوبی وافتح لی ابواب رحمتك (مشکوة باب المساجد ومواضع الصلوة فصل دوم)

ترجمه: زه د الله په نوم جماعت ته داخلیږم او په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی درود وایم. ای الله ! زما ګناهونه وبخښه او زما لپاره د رحمت دروازی خلاصی کړه.

**تکبیر تحریمه:** «الله اکبر» الله ډیر لوی دی.

**د استفتاح دعاء:** د تحریمه تکبیر نه وروسته به رسول الله صلی الله علیه وسلم دا دعا لوستله:

اللهم باعد بینی وبین خطایای کما باعدت بین المشرق والمغرب- اللهم نقنی من الخطایا کما ینقی الثوب الابیض من الدنس اللهم اغسل خطایای بالمآء والثلج والبرد. (مشکوة)

ترجمه: ای الله ! زما او د ګناهونو ترمینځ فاصله پیدا کړه او دومره فاصله لکه د شرق نه تر غرب پوری، ای الله! ماله ګناهونو نه داسی پاك کړه لکه چی سپین کالی له خیرو صاف شي. الله! ماله ګناهونو نه خلاص کړه.

**ثناء:** سبحنك اللهم وبحمدك وتبارك اسمك وتعالی جدك ولا اله غيرك.

(مشکوة باب مایقرأ بعد التکبیر فصل دوم)

ترجمه: ای الله! ته پاك ئی، برکت او صفت تالره دی، ستا شان ډیر لوړ دی او له تا پرته بل څوك د عبادت وړ نه دی.

**تعوذ:** اعوذ بالله من الشیطن الرجیم. (منتقی الاخبار- باب التعوذ للقراءة - صـ ۵۷)

ترجمه: له شیطان مردود څخه په



www.libtool.com.cn

الله پناه غواړم.

د فاتحې سورت: بسم الله الرحمن الرحیم* الحمدلله رب العالمین* الرحمن الرحیم* مالك یوم الدین* ایاك نعبد وایاك نستعین* اهدنا الصراط المستقیم* صراط الذین انعمت علیهم، غیر المغضوب علیهم ولاالضآلین* امین

(مشکوة - باب القراءة فی الصلوة فصل دوم)

ترجمه؛ شروع کوم د الله په نوم چې ډیر رحم کوونکی او مهربان دی. ټول صفتونه لوی الله لره دی، رب ددواړو جهانونو دی. ډیر رحیم او مهربانه دی. د جزا د ورځې مالك دی. مونږ د تا عبادت کوو او له تا نه مرسته غواړو. ته مونږ ته سمه لار راوښیئ. هغه لار چې تا ورښودلې خپلو دوستانو ته، نه د هغو کسانو لار چې وربادې غضب دی کړیدی او نه د ګمراهانو لار. دعا مې قبوله کړې! په یاد ولرئ او له فاتحې نه وروسته دی یو.یا دوه سورتونه او یا دري لنډ آیتونه د یو بل سورت او یا یو اوږد آیات ولوستل شي تر څو چې لمونځ مو مکمل شي.

د رکوع تسبیح: کم له کمه درې ځلې باید داسې وویل شي.

۱- سبحنك اللهم ربنا و بحمدك اللهم اغفرلی.

۲- سبحان ربی العظیم.

(مشکوة - باب الرکوع - فصل اول)

ترجمه؛ ای الله! ته پاك ئې او ټول صفتونه تالره دی. ته ما وبخښې. زمونږ الله تعالی پاك او لوی دی.

له رکوع نه قیام ته د تللو دعاء: سمع الله لمن حمده، ربنا ولك الحمد، حمداً کثیراً طیباً مبارکاً فیه

(مشکوة - باب الرکوع)

ترجمه؛ الله تعالی د هغه واوریدل کوم چې تعریف ئې وکړ. ای الله! ټول تعریفونه تالره دی، ډیر پاك او بابرکته تعریف.

د سجدې تسبیح: ۱- سبحانك اللهم ربنا و بحمدك اللهم اغفرلی.

۲- سبحان ربی الاعلی ( مشکوة بابالسجود )

ترجمه؛ ای الله! ته پاك ئې. زمونږ الله ! ټول تعریفونه تالره دی. الله ما وبخښې، زمونږ لوی خدای ډیر پاك دي.

د دوو سجدو ترمینځ دعاء: اللهم اغفرلی وارحمنی واجبرنی وارفعنی واهدنی و عافنی و ارزقنی

(مشکوة-باب السجود- فصل دوم- مګر د «و اجبرنی» او «و ارفعنی» لفظونه د کتاب الاذکار په ۲۸ صـ د سنن بیهقی په حواله موجود دی)

ترجمه؛ الله! ما وبخښې. په ما رحم وکړې. زما نقصان پوره کړې، ماته لارسوونه وکړې. صحت راکړې او رزق راکړې.

www.libtool.com.cn

تشهد: التحیات لله والصلوات والطیبات السلام علیك ایها النبی ورحمة الله وبرکاته السلام علینا وعلی عباد الله الصالحین اشهد ان لا اله الاالله و اشهد ان محمداً عبده ورسوله.

(مشکوة- باب التشهد-فصل اول)

ترجمه؛ ټولې وظیفې او درودونه لوی الله لره دی. ټول عجزونیاز او ټولې صدقې الله لره دی. سلام دې وی په تا (ای نبی صلی الله علیه وسلم) باندې. رحمت دې وی دالله او برکتونه دې وي په تا باندې. په مونږ او د الله په نیکو بندګانو دې سلام وی او شاهدی ورکوم چې بې له الله پاك نه بل څوك د عبادت وړ ندی او محمد (صلی الله علیه وسلم) د الله رسول دی.

درود شریف: اللهم صل علی محمد و علی ال محمد کما صلیت علی ابراهیم و علی آل ابراهیم انك حمید مجید- اللهم بارك علی محمد و علی آل محمد کما بارکت علی ابراهیم و علی آل ابراهیم انك حمید مجید

(مشکوة - باب الصلوة علی النبی صلی الله علیه واله وسلم فصل اول)

ترجمه؛ ای الله! په رسول صلی الله

عليه وسلم او د هغه په اولاد باندی رحم وکړی، داسی رحم لکه چی په ابراهیم علیه السلام او د هغه په اولاد دی کړی دی، بی له شکه ته د صفت او بزرگی وړ ئی. ای الله! په محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه په اولاد برکت نازل کړه! لکه څرنگه چی تا په حضرت ابراهیم علیه السلام او دهغه په اولاد نازل کړی دی، بی له شکه چی ته د توصیف او بزرگی وړ ئی.

## د آخری تشهد دعاگانی:

۱- اللهم انی اعوذبك من عذاب القبر و اعوذبك من عذاب جهنم و اعوذبك من فتنة المسيح الدجال و اعوذبك من فتنة المحيا والممات. اللهم انی اعوذبك من المائم والمغرم (مشکوة باب الدعاء فی التشهد)

ترجمه: ای الله! په تحقیق سره زه ستا پناه غواړم د قبر له عذاب نه او پناه غواړم د جهنم د عذاب نه او پناه غواړم د دجال له فتنی څخه او پناه غواړم د ژوند او مرگ له فتنی څخه.ای الله! پناه غواړم له گناهونو او قرض څخه.

۲- للهم انی ظلمت نفسی ظلماً كثيراً ولا يغفر الذنوب الا انت فاغفرلی مغفرةً من عندك وارحمنی انك انت الغفور الرحيم. (مشکوة - بخاری)

ترجمه: ای الله! ما په خپل نفس باندي ډير ظلم کړی دی بی له تا زما گناه هیڅوك نشی معاف کولی، ته ما وبخښی او رحم راباندی وکړی څکه چی ته مهربان او بخښونکی ئی.

سلام: دواړو خواوو ته د سلام گرځولو نه وروسته داسی ووائی: السلام علیکم ورحمة الله

ترجمه: سلام او د الله تعالی رحمت دی پر تاسی باندی وی.

## له لمانځه وروسته وظیفی:

له حضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چی رسول صلی الله علیه وسلم به کله چه له لمانځه نه خلاص شو نو په لوړ آواز سره به ئی د «الله اکبر» ذکر کاوه.

**دویم حدیث:** له حضرت ثوبان رضی الله عنه څخه روایت دی چی کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم له لمانځه نه خلاص شو نو داسی به ئی ویل: «استغفرالله»

ترجمه: له الله تعالی نه بخښنه غواړم. بیا به ئی دا دعا لوستله: «اللهم انت السلام و منك السلام تبارکت یا ذا الجلال والاکرام» (مشکوة- باب الذکر بعد الصلوة)

ترجمه: ای الله! ته د سلامتی څښتن ئی، له تا څخه سلامتی حاصلیږی، ته د برکت خاوند ئی، ای د بزرگی او عزت څښتنه.

**دریم حدیث:** له حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم زما لاس ونیوه او ویی ویل: چی زما له تا سره محبت دی. ماورته وویل:چی زه هم له تا سره محبت لرم. بیا ئی راته وویل: چی له لمانځه نه وروسته دا دعا لوله: رب اعنی علی ذکرك و شكرك و حسن عبادتك (مشکوة- باب الدعا فی التشهد)

ترجمه: هغه هیڅ شریك نلری، د هغه پاچاهی ده او ټول صفتونه هغه لره دی او په هر شئ باندی قادر دی.

**څلورم حدیث:** د حضرت مغیره بن شعبه رضي الله عنه نه روایت دی چی نبی کریم صلی الله علیه وسلم به له هر لمانځه نه وروسته دا دعا لوستله:

لا اله الاالله وحده لا شریك له - له الملك وله الحمد وهو علي كل شي قدیرط اللهم لا مانع لما اعطیت ولا معطي لما منعت ولا ینفع ذالجد منك الجد (مشکوة-باب الذکر بعد الصلوة).

ترجمه: له الله تعالی نه سیوا کوم بل معبود نشته، هغه یو دی هیڅ شریك او ساری نه لری، د هغه بادشاهی ده، حمد او ثناء هغه لره ده او هغه په هر څه قادر دی. ای الله! نشی منع کیدی هغه څه چی ته ئی پیرزوینه وکړی او نه شی ورکول کیدی هغه څه چی ته ئی منع وکړی، هیڅ یو شتمند ته د هغه شتمنی ستا د عذاب په مقابل کی فایده نشی ورکولی.

www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# د لیکونو بهیر

ادرس: "دعوت" مجله پوست بکس نمبر : G.P.O. 614 پشاور

دهری پور څخه ښاغلی حاجی محمد زرین ورور لیکی:

ددعوت مجلی محترمو کارکوونکو ورونو!

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته**

**اول درته د کوچنی مبارک آختر په مناسبت مبارکی درکوم اختر مو مبارک شه!**

الله تعالی مو ددعوت او دسلفی عقیدی په نشر او اشاعت کی بریالی لره!ددعوت مجله مونږ همیشه ګورو دیر په زړهٔ پوری او جامع مطالب لري،خو متأسفانه چه مونږ ته په خپل وخت نه را رسیږی اکثره چه زمونږ دوستان یا مونږ په خپله پیښور ته درشو نو دوه ګنې په یو ځل د ځان سره راوړو.

که مهربانی وکړئ د آینده لپاره د دعوت مجله مونږ ته زمونږ په آدرس را واستوئ خوشحاله به شو.

ستاسو د لا بریالیتوب په هیله!

ستاسو ورور حاجی محمد زرین

د هری پور د دوهم نمبر کیمپ څخه

www.libtool.com.cn

د دعوت مجلی همیشنی همکار ذبیح الله «خاکسار» لیکی:

محترمو د دعوت مجلی کارکوونکو ورونو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

د مسنون سلام نه وروسته ستاسو عافیت د الله جل جلاله څخه غواړم.الله مو ددین ددعوت د پاره روغ او جوړ لره.

باقي ستاسو د کوششونو ډیر زیات مشکور یو او الحمد لله ددعوت مجله ډیره په زړهٔ پوری مجله ده او تر خپله وسه د سلفیت د عقیدی ترجمانی کوی.لیکن متأسفانه ډیر وخت کیږی چه لوستونکی ئی د کتلو نه محروم دی. د آینده په ارتباط زمونږه دغه یو څو وړاندیزونه باید په نظر کی ونیسئ.

۱- د آخترونو او د جمعی د ورځو د ځینی علماؤ چه د سلفیت دعقیدي داعیان دی، باید خطبی ئی خپری شی.

۲- د شیخ جمیل الرحمن رحمه الله وینا گانی باید ددعوت مجلی په هره گڼه کی نشر شی.

۳- د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة د عالی مدارسو د محصلینو نظریات باید خپارهٔ شی.

٤- د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة په حقله چه څوك کوم سوال ولری او ستاسو له وس پوره وی باید د هغی ځواب ددعوت په مجله کی خپور شی.

د اسلامی دعوت د بری په هیله!

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

ستاسو ورور ذبیح الله "خاکسار"

د امام بخاري د شرعیاتو د پوهنځی د اول صنف محصل

د نوښار تحصیل ښخه زمونږ گران ورور غیاث الدین «احسان» په خپل را لیږلی لیک www.libtool.com.cn
کی داسی لیکی:

د دعوت مجلی عزتمند مدیر صاحب او نورو همکارانو!

اول تاسی ته د زړه له کومی سلامونه وړاندی کوم!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

بیا له هر څه دمخه ستاسی کامیابي او سر لوړي د خاوند متعال ښخه غوارم.

الله تعالی مو همیشه د اسلامی ارشاداتو په نشر او اشاعت کی بریالی لره! «امین»

محترمو: مونږ ددعوت مجلی هره گڼه په ښه مینه او شوق سره مطالعه کوو، تر دی چه مونږ ته نوی گڼه را ورسیږی.

نو له دی امله مونږ دا ښه وگڼل چه پدی معززه رساله کی زمونږ یو مضمون هم درج شی، نو محترمو زمونږ دا یو مضمون چه د «صدر اعظم په صفاتو » منحصر دی که ستاسی د ملاحظی او تحقیق لاندی د نشر وړ وی نو هیله مند یو چه نشر ته ئی وسپاری.

والسلام

ددعوت مجلی محترمو لوستونکو ورونو!

مونږ هم په خپل وار د دعوت د مجلی ټول کارکوونکی تاسی ټولو ته د کوچنی آختر مبارکی در کوو او د الله تعالی نه مو د لا زیاتی خوشحالی غوښتونکی یو.

ددعوت مجلی د ستاینی مو یو جهان مننه!

د غیاث الدین "احسان" ورور د رالیږلی مضمون په هکله باید ووایو چه ډیر ښه معلومات مو راجمع کړی خو ډیر مختصر دی. تاسو مهرباني وکړی دغه معلوماتو ته دیو مضمون شکل ورکړی او لږ ئی مفصل ولیکی تر څو لوستونکی تری ښه استفاده وکړی شی.

دهغو ورونو په ځواب کی چی ددعوت مجلی د نه رسیدو له آمله شکایت کوی باید

www.libtool.com.cn

ووايو چې ددعوت مجله د پخوا په دول په وړيا توګه نه توضيع کيږي نو د ګرانو لوستونکو څخه هيله مند يو چې ددعوت د مجلې د تداوم په مقصد همکاري وکړي او مجله د بيې په عوض له لاندې مرکزنو څخه تر لاسه کړي:

١-پيښور - يونيورسټي ټاون - پارك روډ -هاوس نمبر ٣٨ - ددعوت مجلې اداره.

٢- پيښور - بورډ - ناصر باغ روډ - المعهد الشرعي.

٣- باجوړ- د جماعة الدعوت مرکزی دفتر يا الجامعة الثانوية.

٤- چکدره - د حضرت عبدالله ابن ام مکتوم (رضي الله عنه) دارالحفاظ.

٥- کونړ - اسدآباد د تنظيم طلبه سلفيه مرکزي دفتر.

٦- کابل - د جماعة الدعوت نمایندګی- وزیر اکبرخان مینه.

٧- ننګرهار - جلال آباد - دجماعة الدعوت نمايندګی.

٨- - د جلوزو ٦ نمبر کمپ - جامع مسجد اهل حديث-سعدالله المحمدی.

يادونه: زمونږ هغه قدرمن لوستونکی چې غواړی زمونږ سره ددعوت مجلې په تر لاسه کولو کي ګډون وکړی، زمونږ سره پدغه لاندې بانکي پته د اشتراك او ګډون رابطه قايمه کړی.

افغان اسلامي خبرى اداره - اکاونټ نمبر (٧-١٠٦٣) نيشنل بينك اف پاکستان صدر روډ پشاور.

Afghan Islamic News Agency A/c No: 1063-7 National Bank of Pakistan Saddar Road Peshawar.

ستاسو د لا زياتی همکاری په هيله!

ددعوت مجلی د اداری له اړخه

www.libtool.com.cn

# نبوی ارشاد

**عَنْ أبي هُرَيرة ، رضِيَ اللَّه عَنْه قَالَ: سُئِلَ رسول اللَّه صَلَّى اللَّه عليه وسَلَّم: أي الأعمال أفضل؟ قال: إيمان باللَّه ورسوله» قيل: ثم ماذا؟ قال: «الجهاد في سبيل الله» قيل: ثم ماذا؟ قال: «حج مبرور».**

(متفقٌ عليه)

ترجمه: از ابو هريره رضى الله عنه روايت است كه گفت: ازرسول الله صلي الله عليه وسلم پرسيده شد كه كدام عمل بهتر است؟ فرمود ايمان به الله تعالى ورسولش. گفته شد باز كدام، فرمود جهاد درراه الله تعالى. گفته شد باز كدام؟ فرمود حج مقبول.

ځانونه د جنګونو او اختلافونو سره مترادف بولي او د هری ورځی په تیریدو سره ورنه د بده شامته نظام ویجاړیږی او د خلکو کرکه ورځخه زیاتیږی.

www.libtool.com.cn

د کابل وروستی جنګونه چی د جدی د یولسمی نیټې نه شروع شوی دی هیوادوالو او نړیوالو ولیدل چی د څوارلس کلن جهاد اهداف کومی خواته روان دی، د تیرو شلو میاشتو په بی معنئ او بی مفهومه جنګونو کی ډیرو کورنیو او بهرنیو منځګړو منډی تړړی وکړی، ډیری لوظنامی او ډز-بندیږ وشوی خو هیڅ مطلوبه نتیجه تری راونهٔ وته او ددی خطر دی چی د یو سوچه اسلامی حکومت جوړول فقط د یو ارمان په ډول په زړونو کی پاتی شی.

دا وخت که هر څومره د افغان لانجی د غوڅولو دپاره د ملګرو ملتو د امنیت شورئ او د اسلامی کنفرانس نه د مرستی غوښتلو او د عمل میدان ته د رادانګلو خبری کیږی، ټولی بی نتیجی ځکه دی چی تر اوسه پوری دې دواړو

ارګانونو څه داسی نړیوالې لانجی نهٔ دی حل وفصل کړی چی د افغانانو دغه پیچلی لانجه هم ورته په غاړه کی وغورځول شی.

تر کومه ځایه چی د جماعت الدعوت دریځ او عقیدتی رسالت دی، نو دی جماعت د جهاد د لومړیو وختو څخه دغه مقصد تشخیص کړی دی او د اسلامی حکومت د تشکیل په لاره کی چی کوم ګامونه اوچت کړای شوی دي هغه ددی جماعت د بانی شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) په ویناؤ او لیکنو کی بیان او تسجیل شویدی. دغه جماعت په دی عقیده دی که چیری د جهاد موجوده مشران په جهادی اهدافو عمل ونهٔ کړی او په یوهٔ واحد اسلامی قیادت راټول نهٔ شی ددی ویره او خطره موجوده ده چی تر لاسه شوی فتحه او نعمت به له لاسه ورکړی او په تشو اسلامی دعووګانو سره به ځانونه او مؤمن ملت د تباهیږ کندی ته وغورځوی. جماعت الدعوت د ملك سالمیت او پیاوړتیا په خاطر په کونړ کی اسلامی امارت د ټولو وسایلو او ادارو په شمول له اسلامی دولت سره چی په سر کی ئی جهادی مشران (استاد ربانی او انجنیر حکمتیار او نور) واقع دی، یوځای کړی او یوه اداره ئی چی ټولو ګوندونو ته پکی برابر سهم ورکړ شوی،جوړه کړی ده، په دی طمعه چی نور وروڼه به همدا اداره د سرمشق په ډول وګرځوی او اسلامی او اجتماعی ګټو ته به په ذاتی ګټو ترجیح ورکړی.

(اداره)

# د شهید شیخ جمیل الرحمن رحمه الله له ویناؤ څخه

www.libtool.com.cn

کله چې دجنیوا مذاکرات د افغانستان د قضیې په هکله پیل شول، د شهید شیخ جمیل الرحمن رحمه الله څخه د افغانستان د مستقبل په خاطر په یو مجلس کې پوښتنه وشوه. هغه وویل: ( کله چې په افغانستان کې د مجاهدینو دحکومت د جوړولو کوښښ کیږي نو دا عمل به د جهاد مستقبل ته نقصان رسوي، ځکه جهادي تنظیمونه به په خپلو منځو کې په جګړو او فتنو اخته شي. ددې یوازینی حل دا دی چې جهاد ته ادامه ورکړل شي او مجاهدین باید یوازې د کابل په نیولو اکتفاء ونه کړي بلکې د منځنۍ آسیا د مظلومو مسلمانانو د نجات پخاطر د امو سیند عبور کړي او جهاد جاري وساتي. پدې ډول ددا خلي جګړو او فتنو مخه نیول کیدای شي).

(کونړ - اسد آباد - 1990م)

# کابل کنډواله شو

## خو دقدرت نیولو لړی په نظامی قوت روانه ده

د کابل ښار کرار کرار خپل عادی حالت ته روان ؤ پوره جم وجوش ئي پیدا کړی ؤ، حکومتی سیستم د ښه کیدو په حال کی ؤ د ښیا ودانولو دپاره نړیوالو ټولنو ترتیبات نیول، کابلیان هم په دی وجه خوشحاله وو او د آرامی ساه گانی ئی اخستلي چه دری څلور میاشتي پر له پسی جنگونه غلی وو وزارت خانو د نوی کال دپاره د اجراءتو پلانونه جوړول او د بهرنیو مرستو خبرونه را روان وو، خو ددی ټولو امیدواریو او امیدونو سره سره دجدی د میاشتي په یولسمه نیته په هغه ورځ چه د کمونستی ډلی (حزب

دیموکراتیك خلق افغانستان) د تأسیس له ورځی سره مصادفه وه، د ثلث الیل په وخت کابل بیا په ناڅاپی توگه د توپونو او راکټونو تر سختو گذارونو لاندی راغي، د سهار تر نهو بجو پوری هیڅوك نه پوهیدل چی څه چل دی او کومو تنظیمونو او ډلو سره لاس اچولی دی؟

خو هغه وخت چه دفترونو ته تلونکی مامورین بیرته خپلو کورونو ته را ستانهٔ شول خلك پوه شول چه حزب اسلامي «حکمتیار» او د دوستم ملیشو ددولتی قواؤ سره اړولی دی،

کابل ریډیو په همدی سهار صرف همدومره ابلاغ کړه چه حزب اسلامي او ددوستم ملیشو غوښتل چه د کودتا په وسیله نظام چپه کړی او قدرت ونیسی خو ناکامه کړی شول.

د یو څو ابلاغیو او شعارونو څخه وروسته راډیو هم غلی شوه، دجنگ شدت ساعت په ساعت زیاتیدهٔ، د جنگ په دوهمه ورځ دواړو غاړو هوائی بمباری هم پیل کړی، گلبدین حکمتیار د استاد رباني داستعفیٰ شرط وړاندی کړ او د دوستم معاون همایون پوځي په مرکه کی وویل چه د موجوده نظام د سیستم بدلول غواړو.

خو جمهور رئیس دغه شرطونه رد کړل او ترټاکلی میعاد پوری ئی د دولتی ماشینری د چلولو چلنج وړاندي کړ.

د جنگ په لومړی ورځ د هماآهنگی د شورئ ځواکونو زیات پرمختگ کړی ؤ خو د دولت د ځواکونو له خوا په شا و تمبول شول، هوائی ډگر ئی د هغوي د قبضی نه

آزاد کړ له یوي هفتي دشدیدو جنګونو په لړ کي چه د کابل دجنوب او شرقي علاقو ښاریان تش تور له خپلو کورونو څخه د کابل د شمال علاقي «خیر خانی» ته د کاروانونو په شکل راورسیدل، حالات زیات خراب شول، د مرو دسړخولو او د ټپیانو د علاج دپاره ټول امکانات دجنګ په لمبو کی خلاصه شول، هر چا سره د ژوند او مرګ خبره طرح وه او دا جنګ د تمام عیار او تباه کن جنګ په حیث و نومول شو او دا څکه چه ټول څواکونه پکي دوه پرکه شول.

د کورنیو او بهرنیو منځګړو څه پته نه وه، د ډز بندی دپاره سخت شرایط وضع شوي وو او هیچا هم نشو کولی د جنګ په لمبو کی د مصلحینو کردار ادا ء کړی.

ایران پاکستان او سعودی عرب د ملګرو ملتونو په ګډون د کابل نه له ډیپلوماتانو د وتلو په پلمه ایله یوه هفته وروسته ۲٤ ساعته اوربند وکړی شو، په دی ورځ په خارجیانو بر سیره پنځوس زره مهاجر کابلیان په ډیرو بدو حالاتو کی له کابل نه دشرق او جنوب په لوری ووتل، په همدی ورځ د اوضاع د خرابیدو په وجه خارجي او داخلي ټول خبریالان د کابل نه وتښتیدل او د کابل حالت ئی د کربلاء سره مشابه وباله.

www.libtool.com.cn

د ملګرو ملتونو سر منشی بطروس غالی په یوه بیان کی په دی جنګونو خواشیني ښکاره کړه او افغان مشرانو ته ئی خطاب وکړ چه زولی درته نیسم چه جنګونه بس کړئ او د ملك چاري د ملت په خوښه سمبال کړئ، په همدی موقع د امنیت شورأ او داسلامي کانفرس سازمان هم دجنګ د خلاصون دپاره اپیلونه وکړل خو صرف یو غږ ؤ او نور ئی هیڅ اقدامات ونشو کړای.

د جنګونو زیات شدت په مکروریانو ، زوړ ښار او بالا حصار باندی ؤ، زیات خلك د ځمکنیو او هوائی بمباریو د لاسه دکورونو لاندی تر څو ورځو پوری مړهٔ او مړ ژواندی پراتهٔ وو او هغه چي فرصت ئی پیدا کاوه د خیر خاني لور ته را روان وو.

کوچنی زوی می په منډه په خاورو و ماندهٔ:

دغسی یو مصیبت ځپلی چه د لومړی مکروریانو څخه خیر خاني ته را روان ؤ او ځان ئی سلطان محمد معرفي کړ، د مجلي له خبریال سره ئی په مرکه کی په ژړا ژړا کی وویل چي په کور کی می شپږ ساعته مخکی راکټ ولګیدهٔ، څلور کلن زوی می ټوټی ټوټی شو، میرمن می په پښه کی چره وخوره، خو ګاونډیانو را سره همدومره مرسته وکړه چي زوی می په منډه منډه په خاورو و ماندهٔ، دښځی پښه می په څادر و تړله او له کور سره مو وداع وکړه، په خیر خانه کی هم د مهاجرینو د پاره نور ترتیبات نهٔ وو، چی جنګ ځپلی جوماتونو، مکتبونو او نورو سرکاری کنډوالو ته ننوزی نور سهولتونه څه نه وو چی په کابل سری ګولی وریدلی او د اقتدار د نیولو د پاره قیامت جوړ ؤ.

څه کم دوه میاشتی کیږی چی د جنګونو په وجه ټولی وزارت خاني او رسمی اداری بندی دی، تجارت نشته او د څلورو میاشتو را هیسی د مامورینو معاشونه او حقوق نه دی ورکړ شوی، بانکونه د پیسو نه تش شوی او څومره پیسی چی راځي هغه د جنګیالیو په خدمت کی لګول

www.libtool.com.cn

کیږي.

کابل کنډواله شو، ډیر بې ګناه او بې دفاع مظلوم خلك د اجل کومې ته ورغلل، ډیر کورونه وران او تالا شول، کابل نه د تښتیدلو بهیر په شدت سره روان دی، خارج ته دپناه وړلو دروازې په همدې سختو ورځو کې وتړل شوې.

## په جلال آبادی کې د نفوسو پړسوب بیې لوړې کړې دی.

د مهاجرینو زیات بوج دا وخت په جلال آباد لویدلی دی، د ننګرهار والي حاجي عبدالقدیر چې کله د کابل نه د مهاجرینو دسیلاب سره مخامخ شو نو د خبریالانو سره ئې په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې په شکایت آمیزه لهجه ووئیل: چې له یوې خوا نه د کابل بې مفهومه جنګونو، قتل و قتال، له بلې خوانه د مهاجرینو سیلاب او بل طرف ته هم د پاك افغان سرحد تړل مشکلات یو په دوه کړي دي.

د پاکستان داخله وزیر نصیرالله بابر په دې اړوند دبی بی سی سره په مرکه کي وویل: چې مونږ غواړو وروسته ددینه د افغانستان په داخل کې د افغان مهاجرینو سره مرستي تنظیم کړو، ده دا ګواښ هم وکړ که چیرې افغان مشران جنګونه بند نکړي په پاکستان کې میشته مهاجرین به هم له پاکستان څخه وباسو.

همدا اوس چې ددی رپورټ تر لیکلو پورې د کابل جنګونه دوام لري او په کابل کې د دیوالونو څخه پرته نور څه نه دي پاتې، دجنګ ددې مصیبت د لاسه چې د څو اقتدار پسندو له خوا نازل شویدی، د ملګرو ملتو د اټکل له مخې څلور سوه پنځوس زره کسان د ولږې او مرګ له خطر سره مخامخ دي.

د خبریال د رپورټ مطابق اوس په کابل کې د یوې پولس منې د اوړو بورۍ بیه شپیته زره افغانۍ، دیو تیم غوړو بیه پنځه څلویښت زره افغاني، دیو من لرګیو بیه یونیم زر افغانۍ او د یو کیلو غوښې بیه دري نیم زره افغاني دی.

څکه نو اکثره هغه کسان چې کورونه ئې د جنګیالیو د چور چپاول نه په امن پاتې شوي دی، ټولو د کور د خرڅ د پیدا کولو لپاره دکورونو سامان نیلام کړی دی او د نن او سبا په تمه د مجاهدینو تر مینځ د جوړجاړي او دائمي اوربندۍ په تمه شپې ورځې سبا کوي.

د څو ورځو سخت انتظار نه وروسته چې د کابل کلا بند اوسیدونکي د ملګرو ملتو دمرستي دشپږو ګاډو په خاطر ئې ځاې په ځاې د مرستې د غنمو دپاره کمینونه نیولي وو د توزیع په لومړیو شیبو کې ورباندې اتو کسانو سرکیښود او شل کسه نور په وینو ککړ کورونو ته ستانهٔ شول.

دمجلې دخبریال د رپورټ له مخې هغه وخت چې د خیرخانې مینې په دوهمه برخه کې د مرستي دغه غنم ویشل کیدل ورسره جوخت د ددولت د مخالفینو له خوا ورباندې راندهٔ توغندي هم ولګیدل او دیوې مړئې ډوډۍ کیسه په وینو، چغو، ژړا او انګولا بدرګه شوه.

# رمضان المبارك يا ماه فيوضات وبركات

www.libtool.com.cn

روزه بنای چهارم اسلام و فرض عين است، زيرا فرضيتش ثابت است بدليل قطعي ايكه الله تعالي در كلام مجيد ميفرمايد: «**يا أيها الذين آمنوا كتب عليكم الصيام كما كتب على الذين من قبلكم** » الاية (بقره - ١٨٣)

ترجمه: اي كسانيكه ايمان آورده ايد بر شما فرض شد روزه همانگونه كه فرض بود بر كسانيكه پيش از شما بودند. اين بود دليل قطعي بر فرضيت روزه و اما تحقيق كلمه «صوم» يا روزه.

روزه را در زبان عربي «صوم» گويند و صوم در لغت مطلق به معني خود نگهداري است. از هر چيز كه باشد- ودر اصطلاح شريعت يكماه تمام همه روزه از صبح صادق تا غروب افتاب (شام) با تمام شرايط از خوردني، نوشيدني و افعال وكردار جنسي خود داري و پرهيز را روزه يا صوم گويند.

فرضيت و فضيلت روزه: دانستيم كه روزه گرفتن فرض است اما اينكه چقدر وخت روزه بگيريم ازين فرموده ورهنمود الهي معلوم ميشود كه:

«**شهر رمضان الذي أنزل فيه القرآن هدى للناس و بينات من الهدى والفرقان فمن شهد منكم الشهر فليصمه ومن كان مريضاً او على سفر فعدة من أيام آخر» الاية (بقره ١٨٥)**.

ترجمه: ماه رمضان كه در آن فرود آورديم قرآن را رهنمائي براي مردم و سخناني روشن از هدايت و جداكردن حق از باطل، پس هر كه از شما دريابد آن ماه را بايد روزه گيرد آن را و هر كه بيمار شد يا مسافر شد بروي لازم است به شمار روزهاي فوت شده از روزهاي ديگر.

يعني گرفتن روزه در طول يكماه تمام از صبح صادق تا غروب افتاب برهر شخص مسلمان، عاقل، بالغ، مقيم و صحتمند فرض عين است، منكرش كافر و حكم فرضيتش بتاريخ دهم ماه شعبان سال دوم هجري از جانب پروردگار عالميان صورت گرفته است.

پيش از دهم شعبان سال دوهم هجري در هر ماه سه روزه گرفتن فرض بود كه با فرود آمدن حكم ماه رمضان فرضيت آن سه روزه منسوخ گرديد چنانچه ابن جرير بروايت معاذ ابن جبل رضي الله عنه ميگويد كه رسول الله صلى الله عليه وسلم وقتي بمدينه تشريف آورد همه ساله روز عاشورا و در هر ماه سه روزه مي

گرفت تاكه الله تعالى روزهء ماه مبارك رمضان را فرض نمود و آيت (۱۸۳) سورة بقره نازل شد.

ماه مبارك رمضان كه سراسر ماه رحمت و مغفرت و سعادت و فيوضات و بركات و استغفار و ماه خودسازي و خود جوئي و تعبد است با آمدنش دلهاي مؤمنين شاد وبه أميد رحمات بيكران ايزدي روز روزه وشيها قيام اليل بريا ميدارند و خوش اند كه احكام الهي را بجا مي آرند.

در خطبه ايكه رسول الله صلى الله عليه وسلم در روزهاي اخير ماه شعبان المعظم ايراد نمود فرمودند:

«اي مردم! چنان ماه پر بركت و باعظمت برشما سايه مي افكند كه در آن شبي وجود دارد كه از هزار شب بهتر است، انجام دادن اعمال نيكوده برابر اجر دارد، همچنين كسانيكه از روي عادات نيكوي خود عمل نيك و نفل را انجام دهد ثواب و اجر فرض برايش داده مي شود، رمضان ماه صبر و استقامت است و بدلهء صبر جنت، كسيكه به برادر روزه دار خود يك وقت افطاري اطعام نمايد، در عوض از گناهانش كاسته مي شود، از آتش درزخ نجات پيدا مي كند و ثواب همان روزه دار را در مي يابد بدون اينكه از ثواب روزه دار كاسته شود. صحابهء كرام عرض كردند يا رسول الله صلى الله عليه وسلم ! ما اينقدر وسع وطاقت نداريم كه به روزه دار افطاري دهيم و اطعام كنيم، فرمودند: كسيكه يك جرعه شربت و آب و يا يك دانه خرما حين افطار به روزه دار اطعام نمايد، چنين بود كه به روزه دار شكم سير اطعام نموده باشد و الله تعالي آنقدر اجر وثواب برايش اعطاء مينمايد كه به روزه دار شكم سير اطعام كرده باشند و از آب حوض كوثر برايش انعام كرده مي شود كه هيچگاه تشنه نه شود، آگر كسي درين ماه بر يك مسلمان رحم كند الله تعالي باو رحم ميكند، رمضان ما هيست كه روزهاي اولش رحمت و روزهاي وسطش مغفرت و روزهاي اخيرش نجات از آتش دوزخ است، نفلش اجرفرض و فرضش اجر (۷۰) برابر فرض ديگر اوقات دارد». در روايتى كه بيهقى نقل نموده آمده : كسيكه در ماه رمضان بر سر خادم خود كم كار كند مغفرت نصيبش مى شود و از آتش دوزخ نجات مى يابد.

در روايتي كه از ابو هريره رضي الله عنه نقل شده آمده: «**قال رسول الله صلى الله عليه وسلم قال الله عزّ و جلّ: كل عمل ابن آدم له الاالصيام، فانه لي وانا اجزي به، والصيام جنة، فاذا كان يوم صوم احدكم فلايرفث و يصخب، فانه سابه احد او قاتله فليقل اني صائم، والذي نفس محمد بيده لخلوف فم الصائم اطيب عندالله من ريح المسك، للصائم فرحتان يفرحهما، إذا أفطر فرح بفطره و إذا القي ربه فرح بصومه**» (**متفق عليه**)

وهذا الفظ رواية البخاري: وفي رواية: «يترك طعامه و شرابه و شهوته من اجلي، الصيام لي و انا أجزي به، والحسنة بعشر امثالها»

و في رواية لمسلم: «**كل عمل ابن آدم يضاعف، الحسنة بعشر امثالها الي سبع مائه ضعف**» **قال الله تعالي: «الاالصوم فانه لي و أنا أجزي به: يدع شهوته و طعامه من أجلي للصائم فرحتان: فرحة عند فطره و فرحة عند لقاء ربه و لخلوف فيه اطيب عندالله من ريح**

www.libtool.com.cn

ادع الی سبیل ربک بالحکمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتی هی احسن الایه

د توحید او جهاد مجله

# دعوت

www.libtool.com.cn

۳۳ گڼه

د افغانستان د جماعة الدعوة الی القرآن و السنة د افکارو خپرونکی

## کابل

ملګرو ملتو د مرستو د ویش په وخت کی اته تنه د مرګ کومی ته ورغلل.

وی مړئ ډوډی دپاره د شلو کسانو وینی توی شوی.

پاتی په (۵) مخ کی




خپل ئی نه پریږدی »«هیواد» کی، بل ئی نه پریږدی «تورخم» کی

www.libtool.com.cn

# الهی فرمان

بسم الله الرحمن الرحيم

**ومن الناس من يعجبك قوله فى الحيٰوة الدنياويشهدالله على مافى قلبه وهوألدالخصامO و اذا تولى سعى فى الأرض ليفسد فيها ويهلك الحرث والنسل والله لايحب الفسادO**

**(البقره – ٢٠٤)**

*ترجمه:او دخلکو یوه ډله ده چه په دنیا کی د دوی خبری ستا لپاره د تعجب او حیرانتیا وړدی او دوی په خپلو زړونو باندی الله گواه نیسی په داسی حال کی چه دوی سخت دښمنان دی. کله چه دوی ته په ځمکه کی اقتدار وسپارل شی هلته فساد کوی، فصلونه او نسلونه تباه کوی او الله تعالی مفسدین نهٔ خوښوی.*